د خاموشـۍ لـه شـوره ډېـرو سـر تـنـدې اونيـوۀ
د بـې وسـۍ لـۀ زوره ډېـر پـه زنګانـۀ پرېواتـۀ

شور شور خاموشي

اعجاز خټك

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعيب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز

جي ټي روډ منګوره، سوات

ټول حقوق د اماراتو پښتو ادبي ټولنه مرکزدبۍ په نوم خوندي دي

د کتاب نوم .... شور شور خاموشی

ليکونکے .... اعجاز خټك

ناشر .... فضل ربی راهی

پروف ريډنګ .... حنيف قيس

ډيزائننګ .... لقمان حکيم

سرپاڼه .... سرتاج استاد او ظفرعلی ظفر

دچاپ کال ستمبر۲۰۱۲ء

پريس .... حاجي حنيف اينډ سنز پرنټرز لاهور

بيه .... ۲۰۰/- روپۍ

د رابطي لپاره ....

د موندلو درکونه :

- داماراتوپښتوادبي ټولنه مرکز دبۍ
- يونيورسټی بك ايجنسی پېښور
- شعيب سنز مينګوره ، سوات
- مکتبه اشرفيه، مېن بازار لاچۍ (کوهاټ)
- پشتواکېډيمي کتاب پلورنځے پېښور يونيورسټي پېښور
- پښتو ادبی ټولنه لاچۍ – کوهاټ خيبر پښتنونخواه

شعيب سنز پبلشرزجي ټي روډ منګوره، سوات

Website: www.shoaibsons.ipfox.com
Email: shoaibsons@yahoo.com
Ph: 0946-729448, 722517

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترون

د خپل ګران و محترم استاد

سعد الله خان حېران په نوم

چې زهٔ يې د شعرو ادب په الف ،ب باندې پوهه کړم

خاورې اعجازخټك

(c) ketabton.com: The Digital Library

سريزه

ښاغلے تاج انور د لاچۍ کواټ ، ادبی مجلسونو کښې داعجاز خټک په نوم پېژندلے شی، پلار نوم يې صوبيدار کُندل خان (مرحوم) دے، دپېدايښت نېټه يې يولسم دسمبر نولس سوه دوه پنځوسم **(۱۱ دسمبر ۱۹۵۲)** او دسکول په کاغذونو کښې د مئ شپږمه نېټه کال نولس سوه څلور پنځوسم **(۶ مئ ۱۹۵۴)** ليکلې شوې ده. يعنې دا زمان د "سرېتوب عمر ته رسېدلے دے نو ځکه د"ښۀ سرېتوب " څرګندونه کوی او دا دے خپله ړومبی شعری مجموعه په اولس پېرزوکوی

زمــــا شـــــاعري ده داولــــس دســــوکالۍ لـــــۀ پــــاره
زۀ خـــو ليکــــل کــــوم دژونــــد دخوشـــحالۍ لـــۀ پــاره
زۀ خپــــل غـــزل تـــه چرتــــه ډمـــه ګـــډولے نـــۀ شــم
نــــۀ شـــم کــــولائې شــــاعری دخرمســــتۍ لـــۀ پـــاره

دا شعرونه داعجاز خټک د"احساس " نومې نظم آخری کړۍ ده کوم چې ما په اول ځل په خپل کلی طورو کې آورېدلی وو. په کال ۱۹۷۸ .ء کښې.دپياوړی مورخ او شاعر تاج ملوک خان دلسوز (مرحوم) په ياد کښې ادبی دستوره وه **.** د لاچۍ نه دوه ځلمی شاعران سعادت سحر او اعجاز حټک هم د اولسی ادبی ټولنې مردان په بلنه راغلی وو په دې موقع ددې دواړو ښاغليو د کلام تود هر کلے شوے وۀ دغه کۀ هر څو د ښاغلی اعجاز خټک د شاعری ابتدائي دور وۀ خو د دۀ "احساس " د پښتو ميئنو لـه دا احساس ضرور ورکړو چې کـه د ملی ژوند د بيداری شاعر اجمل خټک هر څو كه د وختونو دسياست سيلی په مخه کړی دی او ګاونډی هيواد کښې ئې دجلاوطنۍ په ګاللو مجبور کړے دے ولې دهغۀ د احساس بڅرو "رشه" سالمه ده " دغيرت چغه" اوس هم پورته کيدائې اؤ آورېدلے شی ځکه چې د احساس غوږونه کاڼۀ نۀ دی او چې د ملت زلمی ويښ او بيدار وی نو دژوند په کالۀ کښې به دجمال او جلال رنګونه مدام خوارۀ وی او دقام ځلمي شاعران د خپل کلام په وسيله د بيداری جرسونه دېمار غږوی.

دنــــــړۍ لـــــــه واقعـــــاتو ســــــبق واخلــــــۀ
دا تـــر څـــو بـــه تاســـو خپلـــو کښــــې جنګيـــږۀ
"باچاخــــــان" درتـــــه وئيلــــــی داصــــــفادي
کـــــۀ ويښ نـــــۀ شـــوۀ پښـــتنو! ګـــوره ورکيــږۀ

زمـا پـه نيزد چې د لاچۍ اوسېدونکی زلمی وی، لوستې وی او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعرو ادب میئن وی نو هغه به آرومرٌو د محترم سعدالله خان حېران دفکر ونظر په پلوشو روښانه وی او دهغهٔ د " ګلستان " ګل یا وړمه به وی ، دغلته ښاغلي عمل خان سیاح، اکمل اسد آبادی او شاه ولی خان غوندې ننګیالو هم خپلې وینې او جذبې کرلي دي او دملی فکر ځېلی یې خورې کړې دي او د پښتونخواه په اولسی او ادبی ډګرونو کښي یې " لاچی " لهٔ پخواه نه لاچی لونګ کړې ده.

په دي خـــاوره زېږېـــدلی نومـــوړی عالمـــان دي
هـــم پیداپکښـــي بـــې شــــمیره شــــاعران دي
مدرســـه ده دعلمونـــو، دا زمـــونږ کلـــے لاچـــی ده

ښاغلی اعجاز خټک د دغه چاپېرچل او دغه سیال کلی "لاچئ " پیداوار دے هغه دلاچی ګلستان پښتو دسیوری لاندی دشعر او هنر سفرپه کال ۱۹۷۰ کښې شروع کړو. کال ۱۹۷۱ کښي چې سیاسی زول طوفان راپورته شو نو لکه دنورو ادبی جرګو د لاچی "ګلستان" هم اوځپلے شو. په کال ۱۹۷۲ .ء کښې دغلته یې" پښتو ادبي ټولنه لاچی " جوړه کړه . ښاغلے اعجاز خټک دجنرل سیکټر په حیث خپله سکنئ ځوانی ټولنې ته وراُوبخښله او نهٔ کاله یې په دغه چوکی د پښتو ژبې او دادب ناوي ته لوګے کړه . دې مهال کښې د روزګار غمونو دخپل هېواد نه متحده عرب امارات ته په مخه کړلو. د خپلې کورنی دمعاشی مسلې هوارولو مبارزه یې شروع کړه د تن وینه ئې وسوزوله، خوله یې اُوبهیوله او پیسې ټکې ئې اوګټلې نو بیا هم دزړهٔ تاؤنو په آرام پرې نهٔ ښودلو او د پښتو دغم نه یې بې غمه نهٔ کړے شو. د یو څو ملګرو په ملا ترېي " داماراتو پښتو ادبي ټولنه- مرکز دوبی " بنیاد کېښودو او د عربو رېګزارونو کښې یې د پښتو د بڼ وړمې خورې کړې او دغسې ئې د خپل ژوند غوښتنو سره سره د ادب عصري غوښتنې هم پوره کولې "د پښتو وړمې "- "خوشحال او رحمان"- "د سلیم خټک مرحوم کلام مړاوي ګلونه اؤ د سعدالله خان حېران " "پټې سلګۍ" د ښاغلي اعجاز خټک د شعري او هنري سفر زړهٔ پورې مطبوعاتي سلسلې دي . د اماراتو پښتو ادبي ټولنې مرکز دبی د سیوري لاندې چې وخت په وخت کومې لویې ادبي دستورې او مشاعرې شوېدي او ددې پــه اثــر چــې د پښــتو ژبــې او ادب تــه څــومره ښــېګړه رســېدلي ده او اماراتوکښې پښتنوشاه زلمو کښې ادبي ذوق او سماجي غزونې کړې دي نو د فخر او عزت پټکے هم که ښاغلي تاج انور اعجاز ته په سر کړے شي نو بې ځایه به نهٔ وي.

خوشـــــــالیږم چـــــــــــې روګـــــــــورم
د ادب پـــــــــه ګلســــــــتان کښـــــــــــي
د عربـــــــــو رېګســــــــتان کښـــــــــــي
دا زمـــــــــــا د لاس کرلـــــــــــــــــي
د پښـــــــــتو د بـــــــــاغ ګلونـــــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماڅوکاله آګاهو د ښاغلي اعجازخټك په لاس ليکلي د کلام مسوده لوستي وه نو يو دوه کرښي تبصره مې پرې په خپله خوښه داسي ليك کړے وو چې د ښاغلي اعجاز خټک طبيعت کۀ غزل وئيلو ته پسخېږي نو مونږ دې ته يو فطري او غېرشعوري عمل وئيلے شو. دا غزلي د زلمي شاعر د هنري صلاحيتونو او د ځوانۍ د مستو مستو غزوني کوي ځکه نو اعجاز پکښې دومره نۀ شي ليدلے او منکر پرې اعتراض کولے شي . خو اوس چې د سپڼکی (نوے نوم يې شورشورخاموشي ده)يو ه بې ترتيبه مسوده د لوستو دپاره زما په وړاندې پرته ده او په کرښه کرښه کښې لۀ خېره د کمپوزنګ بلها غلطۍ د لوستونکی نظر کيري بيرې کوي – بيا هم په دې د يو نظر تېرولو نه پس دا احساس رابخښي چې ښاغلے اعجاز خټك په ځائے ولاړ نۀ دے. پرله پسي پرمختګ کوي . دغزل په حقله يي رويه او نظريه کښې زړۀ پورې بدلون محسوسېږ ي .غزل څۀ ته وائي د اعجاز خټك يو نظم دے، ديکښي شاعر دعوۀ کړي ده چې غزل د چا ښکلا پورې محدود نۀ دے، دا دوخت تقاضو آئينه دار دے او دخوشحالی د سباؤن زېرے دے خو پرتۀ له دې دعوې د ښاغلي اعجازخټك دادبي پېژندګلو ، د دۀ په بيلو بيلو موضوعاتو وئيل شوي نظمونه په غوره ډول کولے شي ،دغو نظمونو د ښاغلي اعجاز خټك شاعري شته منه کړې ده –زما په خيال د نظم ښه کښې د شاعر تخليقي صلاحيتونه څرګند ليدلے شي او د شاعر انه تخيل رنګارنګي پکښې هم شته – هر نظم ئي د زړه د وارداتو ، داخلي کيفياتو او خارجي محرکاتو ترجماني کولے شي -.

د ښائيسـت او د ښـکلا پـه کلـو ګـرځم
پکښـې مينـه، وفاګـانې لټومـه
رنګينـۍ چـې د نظـر کچکـول کښـې راوړم
تصـويرونه تـرې د ښـکلي جوړومـه

م ،ر، شفق
اسلام اباد
۳۱ جنوری ۲۰۱۲ء

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اعجازاعزاز

هرکله چې خدائے بخښلي ایوب صابر په سرپرستۍ کښې د کوهاټ دښار نه پنځویشت کلومیټره لرې په فاصلې باندې د سهېل (سوېل) آړخ په جرنیلي سړك باندې ښاد اؤ آباد کلی لاچۍ کښې د ګلستان پښتوادب لاچۍ په نوم یو نوے ادبي تنظیم بنسټ کیښودو نو ډېر زر د دې ادبي ګلستان دشعروادب د ګلونوپه خوشبویانو ادبی فضاګانې معطرې شوې په خصوصي توګه د سعدالله خان نوم په ادبی دنیاکښې لکه د نمر اوځلېدهٔ. د عیسوي کال نولس سوه شپېتم نه تراوایایم پورې پوره لس کاله د دې تنظیم ډېر په اتفاق سره دپښتوژبې او ادب خدمت ډېر په ښهٔ انداز کښې اوکړو.محترم سعدالله خان حېران نهٔ صرف د دې انجمن د سیوري لاندې د نوي ګُول د شاعرانورلاربنودنه کوله بلکه په ګورنمنټ هائی اسکول لاچۍ کښې د استاد په حیث خپله وظیفه یې هم په ښهٔ توګه ترسره کوله. حېران صېب د لاچۍ اؤ دتولي خټك نامې مشهورروحاني مشرمآذون صېب دویم دلاچۍ مولانا عبدالمنان عبېد مرحوم فرزند دے اؤ د پښتو سره سره د اردو، فارسی اؤ عربی درېوو ژبو عالم اؤ ماهر دے نو د داسې نابغه استاد د سیوري لاندې د سبق زده کړه د الله تعالی د لوې فضل ځرګند علامت دے . راقم الحروف سعادت سحر، تاج انور اعجاز، انور الفت، انور حسېن مسافر، میجرالطاف اؤ سعیدرهبر اؤ داسې نور لکه امجد ساقی جان د حېران صېب د مدرسې طالبعلمان دي اؤ دا ټول نن هم په دې ویاړ کوي چې زمونږ سرپرستي حېران صېب کړې ده .

ښاغلي تاج انور اعجازسره زماپېژندګلي زما د عمر سره سمه ښکاري هغه په دې چې یو خود هغوي اؤ زمونږ کور یو بل سره ډېر نزدې اؤ بیا په یو اسکول کښې مونږ سبق وئیلي دے بس دومره به وه چې اعجاز صېب به مانه یو جماعت وروستو وهٔ.

اعجازصېب دعیسوی کال نولس سوه څلورپنځوسم د مۍ د میاشتې په شپږمې نېټې زیږېدلے اؤ دبابا جي نوم ئي صوبیدار کندل خان دے. د دوی باباجی دپیرطریقت نوم یو پیرتاج علی شاه مریدوهٔ چې دکشمیر نه به ئي تشریف راوړلو. په کوموشپوورځوکښې چې اعجازصېب زیږېدلې وو نو په هغه دوران کښې د دوی د باباجي پیر صېب هم لاچۍ ته تشریف راوړے وهٔ چې کله یې اعجازصېب ورته اُښودلو نو هغوی ورله نوم تاج انورخوښ کړو.

ماته هغه شپې ورځې هم نن یادېږي چې اعجازصېب به په تبلیغي جماعت کښې منډې ترړې وهلې ، دټول محلت ماشومان به ئي راجمع کړل اؤ شبې جمعې ته به یې بوتل اؤ بیا ماته هغه وخت هم یادېږي چې د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړوکوالي ملګري لیاقت علی راز چې زما هم جماعتي وۀ، په مرسته یوه ادبي ټولنه جوړه کړه چې نوم یې ورله پښتودرنه ادبي ټولنه لاچی کېښودۀ خو دا د دوی د وړکوالي ادبي هلې ځلې وې. بیا داسې وخت راغے چې لیاقت علی خان راز دپاکستان په نېوی کښې نوکر شو اؤ د ټرینګ نه پس یې بنګال ته اولېږلو چې هغه وخت د کال ۱۹۷۱ء جنګ بنۀ په درزسره شروع وۀ، بنګله دېش جوړ شو خولیاقت علي خان راز هلته شهید شو اؤ بیر ته رانغے. هم په دغوشپوورځوکښې ګلستان پښتوادب لاچی په سیاسي الغلاؤ تلغاؤ کښې داسې اونختو چې خپل ادبي سفر یې نیمه خوا پاتې شو. نو اعجازصېب د یونوي تنظیم جوړولو تابیا اوکړه چې دراقم الحروف سره سره سلیم خټك مرحوم، عزیزالله عزیز مرحوم، انوراُلفت، نثارګل نثار، غیورناشاد، سعیدرهبر، میجرالطاف سرفرازخټك (ریټائرډ) ، اقبال فنا، انورحسین مسافر، بشیر احمدبشیر، فېض الله جان فېض ، اقبال عارف ، اسلام بادشاه اسلام اؤ پروفیسر نعیم رضوان خانزاده په مرسته د سعدالله خان حېران په سرپرستۍ کښې پښتوادبي ټولنه لاچی جوړه کړه چې د اعجازصېب د نۀ ستړی کېدونکي هلوځلو اؤ د هغوی د ویال طبعیت په برکت دغه تنظیم ډېر زر د پښتونخواه د نورو ادبی تنظیمونوسره اوړه په اوړه یې اودرولو. د دې ټولنې دسیوري لاندې به نۀ صرف اُووۀ ورځنی تنقیدي غونډې کېدلې بلکې په علاقائي اؤ په ملکی کچ به یې مشاعرې کولې،د پښتوټپه ده.

خـــــوك پــــه رضـــــا لـــــۀ ملکـــــه نـــــۀ ځـــــي
یــــا ډېرغریـــــب شــــي یـــــا د یـــــار دلاســـــه ځینـــــه

نوبیا داسې ورځ هم راغله چې اعجازصېب د معاش په سلسلې کښې دوبۍ (متحده عرب امارات) ته لاړو، هغه ورځ زمونږ ټولنې ملګرو دپاره د یو لوې غم نه کمه نۀ وه خو اعجازصېب د یوروڼ مستقبل په تکل کښې ملګرو هغه په ډېرو دعاګانوسره رخصت کړوګنې اعجازصېب په پاکستان کښې هم بېروزګاره نۀ وۀ، دکوهاټ په اکاؤنټ آفس کښې د مرحوم رومان ساغر سره جوت په کرسۍ به ناست وۀاؤ دواړوشعروشاعرۍ سره سره د ایم اے پښتو امتحان په پرائیویټ توګه پاس کړے وۀ.

دعیسوی کال نولس سوه یوکم آتیایم د جنوری میاشتې یولسمې نېټې پورې اعجازصېب د ټولنې عمومی سکتر وۀ. هلته چې متحده عرب اماراتو ته لاړو نو یوکال پس یعنې کال ۱۹۸۰ کښې یې داماراتوپښتوادبي ټولنې مرکزدبۍ په نوم یوه ټولنه سازه کړه چې د الیاس ټلوال ورسره پوره په پوره منده اووهله. ترننه پورې اعجازصېب د دې ټولنې عمومي سیکتر دے. دوی دلته ډېرې درنې اؤ بین المللی مشاعرې کړې چې ادبی دنیا ئې نن هم یادوي . دوی د خپلوملګرو یو تعارفی کتاب د وږمې په نوم اؤ بل یې د خوشحال و رحمن بابا په نوم چاپ کړی.دغه کتاب دشپاړسم جماعت د پښتوطالب علمانو دپاره پښتواکیډیمی ډېره ګټور اؤغوره ګرزولے چې ډېرې علمی او ګټورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقالې پکښې شاملې دي کومې چې ددوی ملګرو په خپله لیکلې.

یو اهم ادبي ، علمي او سماجي کار چې دوئ کړے هغه دا چې دپاکستان نه يې. قلندر مومند، پرېشان خټك،ایوب صابر،سعدالله خان حېران، پروېش شاهين، عبدالکریم بریالے، مطیع الله قریشی، مجبورسوراني، غازي سیال ، سلیم بنګش او اسیرمنګل غوندې لوې لوې شاعران او ادیبان رابللي .

کۀ دغومشاعرو ویډیو ریکارډنګ اوګورئ نو دآورېدونکو شمېره پکښې دحده نه زیاته ښکاري خو د اعجازصېب نظامت به دا مشاعرې نورې هم یو په دوه ښائسته کولې.

اعجاز صېب دپښتو ژبې او ادب د پرمخ تګ لۀ پاره هر وخت او هر ځائے کښې خپل صلاحیتونه پکار راوستلي او پیسه يې شندلې خو قصه يې ګټلې .

- د هغوی د هلوځلو په برکت حسېن احمد صادق ، مهرونېش صدیقی، وزير بادشاه جانان، امت بنګش او بختيار شاکر غوندې ادبی ملګرو په دوحه قطرکښې پاك پښتوادبي ټولنه جوړه کړه.هم دې سره سره ئې دغه ملګري هم مشاعرو ته رابللي . دې نه علاوه ئي فيروزآفريدي هم په خصوصي توګه مشاعرو ته رابللې .
- په بحرين کښې يې هم د ټولنې جوړولو دپاره حامدقريشی سره آړيکې نيولې وې خودمقامي قوانينو له وجې هغوي ټولنه جوړه نۀ کړے شوه .
- په ویسه اټك کښې پښتوادبي جرګه دمشتاق احمدمشتاق په سرپرستۍ کښې اعجاز صېب جوړه کړې.
- ورسره ورسره په کراچۍ کښې د اتفاق پښتو ادبي ټولنه هم صابر احمدصابر استاد په مرسته او دهغوی د نورو ملګرو په برکت جوړه شوې ده .

زما دمعلوماتو ترمخه کۀ ریډیو او ټي وي دلاچې نه څوك بللي نو د سعدالله خان حېران او زما دباباجی شاه ولی خان نه پس يې اعجازصېب بللے ځکه چې دا دومره مقبول شوے وۀ چې دوی به مشاعرو ته رابللو.

په متحده عرب امارات کښې د راس الخيمې ريډيو نه چې خپرونې پېل کېدې نو داعجازصېب پکښې پوره پوره لاس وۀاؤ هم هلته دوی دپښتو په اووه ورځني خپرونوکښې یوکال پورې کار کړے دے او دا خپرونې به ټول عربستان کښې او په افغانستان او کوئټه بلوچستان کښې آورېدے شوې او پښتانوبه دومره خوښولې چې د جمعې په ورځ به سحريولس بجې او دشپې يولس بجې به ټول پښتانۀ ورته غوږ غوږ ناست وو.

اعجازصېب یو ډېرخوږ انسان دے، هرچاسره ډېره په مینه ګړه بړه کوي. او بیا د خپلوادبي ملګرو خو دومره قدر کوي چې کله سليم خټك په حق اورسېدۀ نو دهغوي د کلام مجموعه د مړاوي ګلونه په نوم چاپ کړه او بیا ئې د خپل استاد سعدالله خان حېران کلام پټې سلګۍ چاپ کړې او دا دے نن دخپل کلام مجموعه چاپ کوي چې نوم يې ورله شورشور خاموشي غوره کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعجازصېب د کال نولس سوه يوکم آتيايم نه په عربستان کښې دژوند ورځې شپې صباکوي ، دزړۀ اؤ دشوګر مريض هم دے، په داسې عمر دسړي زړۀ غواړي چې آرام اوکړي خو هغه دچاخبره چې شوخ د خوارو زړونه دي چې چوي نه ، د اعجازصېب حوصله لا ځوانه ده ، د هغوي مزل لا روان دے اؤ داسې يو نابغه روزګار شخصيت دے چې داسې خلق ډېر کم پيدا کېږي . د داسې خلقو په باب له خادم بابا ډېر ښۀ وئيلے.

چـــې ژونـــدے ووم ، تاســـو ويشـــتے ووم پـــه کـــانړو
اوس مـــــې ځلـــــه ښـــــکلوئ د قبـــــر کـــــانړی

نو بايد چې مونږ د داسې خلقو قدر په ژوند کښې اوکړوګنې دآسمان نمر په ګوته نۀ پټېږی .

په دې موقع د اعجازصېب د شعر و شاعرئ په بشپړه توګه تبصره کول يقينا چې ګران کار دے خو زۀ ډېر په لنډو ټکوکښې د هغوي د کلام ذکرخپل فرض ګڼم . دوی غزل ، نظم اؤ هائيکوليکلي .

په کال نولس سوه يوکم اويايم (۱۹۶۹) د ميئ د مياشتې په شلمې نېټې زمونږ د نيکۀ ميرولي کاکا په سرائې کښې يو ه طرحي مشاعره کېدله چې صدارت ئې افضل رضا کولو. ما اؤ اعجاز خټك پکښې په وړمبي ځل ګډون کولو، د اعجازصېب کلام مطلع اؤ مقطع وړاندې کوم.

ســــتا د راتلـــــو وعـــــده وفـــــا نـــــۀ شـــــوله
پـــــه مـــــا دهجرشـــــپه صـــــبا نـــــۀ شـــــوله
اعجـــــازمجبور وۀ چـــــې پښتوکښـــــې ګېـــــر وۀ
خـــــو هغـــــه پېغلـــــه پښـــــتانه نـــــۀ شـــــوله

په يو بل شعرکښې د ورورولئ پېغام داسې آوروي.

دوروروليـــــــی مشـــــــال پـــــــه لاس ګرځـــــــوم
دغـــــه رڼـــــا بـــــه لـــــر اؤ بـــــر تـــــه يوســـــم

دغزل روح تغزل ته وئيلے کېږي، لږ يې دا انداز اوګورئ.

تـــــا چـــــې د ښـــــو پـــــه غشـــــو اوويشـــــتم
مـــــړ وومـــــه جانانـــــه! راژونـــــدے دې کـــــړم

رقيبانو ته په ښکلي اندازکښې داسې پټون ټپوي ،

رقيبـــــان دې اوس دســـــر خېرونـــــه غـــــواړي
چـــــې اعجـــــاز ورتـــــه وهلـــــے نـــــن پټـــــون دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ دپښتو ژبې سترنقاد اؤ اديب م ، ر، شفق دې رايې سره اتفاق لرم چې د اعجاز نظم په غزل باندې درونډ ښکاري لکه د احساس نومې نظم د هغوی د ژور احساس په ښه توګه ترجماني کوي اؤ داسې وائي چې.

ماتــه د وخــت ختلــي نمــر تــه تيتېــدل نــۀ راځــي
ماتــه د عشــق اؤ د مســتۍ نــه ډك غــزل نــۀ راځــي
زۀ داولــــس پــــه غــــم لړلــــي مرثيــــي ليکمــــه
دې نــه ســېوا راتــه پــه بــل څــۀ کښــې ليکــل نــۀ راځــي

دعشق عنوان لاندې نظم يې يو شاهکار نظم دے چې ډېر په ښکلي اندازکښې د عشق مفهوم داسې بيان کړے.

عشــــق د کلهــــم انســــانيت د وروروڵــــۍ فلســــفه
عشــــق د انســــان د محبــــت اؤ ســــوکالۍ فلســــفه
عشــــق د زردار اؤ د نــــادار د يــــو ولــــۍ فلســــفه
عشــق د خوشــحال د ننــګ و پــت پښــتونولۍ فلســفه

عشــق د خوشــحال د تــورې شــرنګ اؤ دغيــرت قصــه ده
نــــۀ د لــــيلا اؤ د مجنــــون د محبــــت قصــــه ده

د اعجاز صيب نور نظمونـه لکه.پښتنه ميرمن، هغه څوك وه، ارمان، جنت، منـزل، زمـا خوشـحال اؤ شـپونکي سندره.دلوسـتو جوګـه دي چـې دطوالـت لـۀ خاطره دا هر څۀ په لوستونکو پرېږدم . په آخرکښې به دومره اووايم ،

چــــې د اعجازغونــــدې لــــۀ ســــره تېــــر شــــي
هغــــــــه خبــــــــرې زړورې کــــــــوي

په درناوي
سعادت سحر
صدر پښتو ادبي ټولنه لاچۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتولپونے

هغه بله ورځ راته تاج انوراعجازخټك ټليفون اوکړو چې بشيرصيب زۀ خپل کتاب چاپ کووم ، ماورته وئيل ، مبارك شه، ډېر زيات خوشحاله شوم خو ډېرزيات حيران په دې خبره شوم چې وئيل ئې راته دکتاب مسوده درلېږم چې ليکل پرې اوکړې، داخبره زما دپاره دحېرانتيا او پرېشانئ وجه ځکه وه چې زۀ په دې خبره لا خبر نۀ يم چې د چا په کتاب ليکل او خپل تآثرات ليکل دکله نه او څنګه شروع شوی دی خو په دې خبره ښۀ پوهه يم چې کله هم يو مصنف خپل کتاب چاشاعرله ليك دپاره ورکوی نوکوشش کوی چې لوئې نه لوئې شاعر، اديب ، ليکوال انتخاب اوکړی او کۀ لوې نۀ وی نو بيا خوچې کم نه کم دمصنف نه دشعروادب په ميدان کښې سينيئر وی ، پياوړے وی او پېژندونکے وی. او بله خبره دا د حېرانتياچې زۀ پرې لا پوهه نۀ يم چې ښاغلي ليکوال اعجازصېب خپل کتاب دپاره (شورشورخاموشی) ولې او په څه مقصدماته د ليك دپاره راکړوځکه زما او د اعجازصېب حيثيت د شعرو ادب په حواله داسې دی لکه داستاد او شاګرد، اعجازصېب په دې ميدان کښې زما د استاد حيثيت لري او ماته لا ځان د ادب په شاګردانوکښې هم نۀ ښکاري خو دا د اعجاز صېب د مينې او اخلاص او سړيتوب يوه لويه نمونه ده چې زما غونډې د ادب يې طالبعلم ته يې خپل کتاب د ليك دپاره راکړو او اوس زۀ دښاغلي ليکوال د حکم په تعميل کښې د دوی په کتاب باندې خپلې ماتې ګوډې خبرې اوليکم.شورشور خاموشی او بيا دا شعرونه.

ځنــــې ســــرونه مـــې ليـــدۀ پـــه نمرخاتـــۀ پرېواتـــۀ
ځنــــې ســــرونه آخرغـــوڅ شـــو، ورتـــه نـــۀ پرېواتـــۀ
غـــوره تټـــا چرتـــه پـــه لـــرې وطنونـــو اوشـــی
تنـــدرراتلو، زمـــونږ پـــه کـــور، پـــه هرکالـــۀ پرېواتـــۀ

د دې شعرونو شاعرتاج انور اعجازخټك زۀ دتېرو ډېرشو کالو راسې پېژنم. دکوهاټ ضلعې لاچئ کلی يو ځوان زلمے چې نن هم لکه د تېر وخت په شان به په عمر ډېر خو په زړۀ زلمے دپښتوادب د ميدان هغه زيرك او سترګه ور شهسوار دے چې د۱۹۸۰ نـه واخلـه ترننـه يې دعربوپـه دې سره شـګلنه او سوراړه زمکه يې د يو څوملګرو سره د اماراتوپښتوادبی ټولنې شمع پـه خپلـو هلوځلو او منډو تـرړو پـه هرحـال او هـر سـاعت داسـې روښـانه سـاتلې ده چـې ديوطوفـان او بادوبـاران تتبېدو لـه نـۀ ده ورکړی او نـن هـم سـره د خپلـوملګرو لګيادے د پښتو ژبې او پښتو ادب سرڅښه کولوکښې بوخت دے او ولـې بـه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهٔ کوی چې دې ښاغلی د میدان ګټلو هنردپېښتو ادب د یولوئې پوهه اوزیرک استاد ښاغلي سعدالله خان حېران نه زده کړے دے ځکه خو چې اعجازصېب څهٔ هم لیکلی دی، زما په خیال یې په تول پوره او وزن پوره په پوره دي، کهٔ څهٔ کمے پکښې وی هم نوماته پکښې په نظرنهٔ دی راغلي.

اعجازصېب د ژوند په هر اړخ لیکل کړی دي او دا هرڅهٔ یې په غزل ، نظم او هائیکوکښې ځائے کړی دي او چې هرڅهٔ یې لیکلی دي نو ډېره یې خوږه او پسته ژبه کښې یې لیکلي دی چې یو عام لوستونکے یې په اسانه لوستلے هم شی او پرې پوهېدے هم شی.

اعجازصېب کهٔ یو خوا دځان او جانان خبره کوی نو دخپل کورکلی د کوڅو د فکر نه هم ناخبره نهٔ دے پاتې شوے او ددې سره یې د اولس غم هم په خپل زړهٔ کښې لکه د روح ځائے کړے دے. دخپل قام اولس او د وطن غم یې تل ترتله په خپل چاپېرچل دړدونه خوشحالۍ هر څهٔ یې په خپل کلام کښې ځائے کړی دی خو سره د دې یې د نړۍ د مظلومانو غم هم ژړلے دے، دا تول دیو ښهٔ او پوهه شاعرنخښې دی چې تولې دښاغلی لیکوال په شاعرۍ کښې موجودې دي. ښاغلے لیکوال چې کله خپل جانان ستائي نو وائي.

کهٔ زما جانان دې اولیدو په سترګو
درنه هیر به دجنت حورې غلمان شی
خلق وائی چې یې زړهٔ راځنې یوړو
خوتازه پرې د اعجازخټك ایمان شی

او بل ځائے وائی،

تاچې دښو په غشو اوویشم
مړوومه جانانه! راژوندے دې کړم
ستا اعجازخټك به ولې نهٔ ستائي
ستایو خوږ نظردے چې زلمے دې کړم

او کله کله د جام ، ساقی او میخانې نه هم خوند آخلی نو داسې وائی،

هغه چې جام دپاسه جام سره هم خلهٔ ورکوی
داسې ساقی ته به څوك څرنګې زړهٔ نهٔ ورکوی

او یا دا چې،

ستا دمستوخماروستر ګوآثر دے
میخانې کښې د جامونوکړنګهار شو

او بل ځائے کښې وائی چې،

چې څښوی شراب د مینې په نظر د مستوسترګو
په دا خوی مې ځکه خوښ دے دا دلبر د مستو سترګو

او چې د خپل کلی د کوڅو خبره شي نو څهٔ داسې وائي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خزانـــه د تـــاريخونو ،دا زمـــونږ کلـــے لاچـــی ده
آيئنـــه ده د وختونـــو ، دا زمـــونږ کلـــے لاچـــی ده

دځان په حقله ښاغلے وائي،

ماتـــه د وخـــت ختلـــي نمـــر تـــه تيتېـــدل نـــۀ راځـــي
ماتـــه دعشـــق او د مســـتی نـــه ډك غـــزل نـــۀ راځـــي
زۀ د اولـــس پـــه غـــم لړلـــې مرثيـــې ليکمـــه
دې نـــه ســـپوا راتـــه پـــه بـــل څـــۀ کښـــې ليکـــل نـــه راځـــی

شاعر به څنګه بل څۀ اوليکی چې په کورکلی محلت کښې دبارودو ډېري پراتۀ وی، زلمی پېغلې ، ماشومان اؤ بوډاګان بې ګناه قتلېږی، بيا به شاعرنوره شاعری څۀ اوکړی، د شاعرخو به بيا هم داسې شاعري کوی لکه اعجازصيب چې وائي،

ملګـــرو! مانـــه دســـرور ډکـــې نغمـــې مـــۀ غـــواړئ
مانـــه د وخـــت د نمرودانـــو قصـــيدې مـــۀ غـــواړئ
زۀ د حـــالاتو کـــربلا بانـــدې مـــاتم کوومـــه
مانـــه مـــاتم کښـــې د خنـــدا ډکـــې قصـــې مـــه غـــواړئ

د وطن په حقله شاعر خپل احساسات څۀ په دې ډول بيا نوی،

هغـــه آزادی چـــې مـــونږ پـــه ســـرو وينـــو ګټلـــې ده
دا دزنـــده بـــاد پـــه نعـــرو مـــونږ ه تـــل پـــاللې ده

هغـــه آزادی چـــې د شـــپونکی د خلـــې ســـندره وه
هغـــه دخيبرپـــه دنګـــو غروکښـــې غلـــې غلـــې ده

اؤ بل ځائے وائي،

چـــــې پـــــرون وۀ هغـــــه نـــــن دے
هغـــــه ملـــــك ، هغـــــه وطـــــن دے
د اســـــلام پـــــه نـــــوم جـــــوړ شـــــوے
پکښـــــــــــــې زور دے د خـــــــــــــدايانو
زماهېربرکـــــــــت شـــــــــاه شـــــــــی
دا چـــــــــې اُوخـــــــــوړو پېرګـــــــــانو

د جانـان د صـفت اؤ وفـا سـره سـره ښـاغلے ليکـوال د دوران پـه غم کښـې هم بوخت دے او څۀ په داسې ډول ګويا دے،

ملګـــرو! زۀ پـــه داســـې ښارکښـــې اوســـم
لکـــه د مصـــر پـــه بـــازار کښـــې اوســـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغــــــــه د امــــــــن او انصـــــــاف غوښــــــتنه
لکـــــه دتېروخـــــت چرتـــــه غارکښــــي اوســـــم

کله خپل داولس غم او کله د خپل مزدورغم دا تول دشاعرد ژوند هلې ځلي دی،

یوخـــوا بربنـــدلغړبچي د خـــوار مـــزدور وینمـــه
بـل خـوا غټـان نشوکښـي مسـت مخمـور مخمـور وینمـه
خـدائیګوترې سـترګې زۀ پـه بـل خـوا آړولـے نـۀ شـم
چـــې دوخـــت ژرنـــده کښـــې دل شـــوے خپـــل جمهـــور وينمـــه

هوښیاران وائـي چـې شـاعران د قـام سـترګې وي خـو زۀ وایـم چـې شاعران د قام ژبه هم وي ځکه چې قام کومه خبره په ژبه کول غواړي اؤ نـه ئې شي کولے، هغه خبره اکثرپه خپلو غزلونو، شعرونو اؤ نظمونوکښې یا خوئې کړي وي اؤ یایې اوکړي، هغه که فریاد وي که د سوال منت خبره اؤ کۀ د وخت د ظالمانواؤ د سماج رواج نه بغاوت وي، هره خبره شاعر په خپل کلام کښې په ډېره آسانه اؤ پسته ژبه کښې په آسانه کولے شي لکه د اعجازصیب د یو نظم (احساس) یوڅو شعرونه زۀ دلته په دې حواله را آخلم، هغه وائي،

وایـم چـې تندرشـوے، آسـمان نـه پـرې راپرېـوتلے
چـــاچې زمـــاداولس شـــونډو نـــه خنـــدا وړې ده
وایـم چـې اور شـوے ، ورتـه چغـه د غیـرت جوړه شـوے
چـــاچې زمـــونږ خـــوارو جـــونګړو نـــه رڼـــا وړې ده

داولس د غم سره سره ښاغلے لیکوال دنړۍ د مظلومانو نـه هم ځان ناخبره نۀ دے ساتلے اؤ دنړۍ د هر مظلوم غم یې یو شان ژړلے دے.

د فلسطین اؤ دکشمیر په زمکه
خپـــــرې تـــــورې کـــــوي، زغـــــرې کـــــوي
چـــې داعجـــاز غونـــدې لـــۀ ســـره تېـــر شـــي
هغــــــــه خبـــــــــرې زړورې کـــــــــوي

په دې حواله داعجازخټك صیب نظم (آخترډې مبارك شه) د باربار لوستلو جوګه نظم دے.

اعجازصیب غزل کم اؤ نظم زیات لیکلے دے خو غزل یې د نظم اؤ نظم یې د غزل نه ډېر تاثیرلري، ډېره ساده او سوچه پښتو یې استعمال کړې ده. دډېرو ګرانو لفظونو، کنایو اؤ استعارو نه هم ځان بچ ساتلے دے چې هر سړې پرې پوهېږي، په هره موضوع یې لیکل کړي دي. پاتې د هرلیکوال په لیك کښې څۀ نـه څۀ کمـے وي ځکـه ورتـه دانسان لیك وائـي. دغـه شـان بـه د ښاغلي اعجازصیب په شاعرۍ کښې هم څۀ نه څۀ فني اؤ فکري خامۍ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوماته په نظر نهٔ دي راغلي ځکه ما په دې خپلو خبرو کښې د تنقیدنه هیڅ کار نـــهٔ دے آخســـتے. بـــاقی د اعجازصـــیب شـــعري مجموعـــه (شورشورخاموشی)ستاسو په لاسوکښې ده باید چې ورته د قدر په نظر اوکتلے شـی اؤ خـدائے دې اوکړي چې د اعجازصـیب دا شورشورخاموشـی دپښـتون اولس دپوهې اؤ نیک مرغی سبب اُوګرځي(آمین ثم آمین)

په یوه پُښتنه ټپه دا خپلې خبرې راټولم اؤ ستاسو نه رخصتیږم،
اعجازصـــــیب تـــــول دې دســـــیکي شـــــه
چـــې دښـــمنانان درســـره شـــپاړس وخیژینـــه

په درناوي
بشیراحمدبشیر
چئیرمین
داماراتوپښتو ادبي ټولنه مرکزدُبئ
۳۱ ِ مئ ۲۰۱۲ ء.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اعجاز خټك اعجاز

دوه دېرش كاله مخكښې د اعجاز خټك او الياس ټلوال په كوششونود اماراتوپښتو ادبي ټولنه مركزدُبۍ په وجود كښې راغله، اؤ تردمه ټولنه روانه هم ده او ودانه هم ده . روانه په دې معنی چه ادبی هلی ځلې يې په څۀ نۀ څۀ شكل دوام لري، ودانه په دې معنی چې دغړو تخليقات يې وخت په وخت مخې ته راوځي . په تيرو درې لسيزوكښې دې ټولنې خپل كار ته اكيډمۍ ګوته په خولۀ كړه خو داسې هم نۀ ده چې جولۍ يې بېخی تشه ده .

هم دغه د خليج اولنۍ ټولنه ده چې پښتو ته يې په خليج كښې د ټولنو چل اوښودلو. هم دغه اولنۍ ټولنه ده چې په خليج كښې يې دپُښتو مشاعرو ، سيمنارونو او نورو ادبی غونډو بنياد ايښے دے . هم دغه ټولنه ده چې بغير د چا د مكملې سرپرستۍ نه يې خپل وجود او دپښتو ادبی ذوق په خليج كښې ژوندے ساتلے دے. زۀ په دې خپلو كرښو كښې هڅه كوم چې دټولنې دهلوځلو سرسری جائزه واخلم او په دې هرڅه كښې د اعجازخټك تاند او ځپاند رول څرګندكړم .

مشاعرې كول :

ټولنې ته دا اعزاز حاصل دے چې اولنۍ مشاعره يې په متحده عرب امارات –ُدوبۍ كښې اوكړه او پښتانۀ يې دلته په اول ځل دخپلې ژبې او ادب په نامه راغونډ كړل . دغه سلسله تراوسه پورې دوام لري . اعجازخټك يې دپيل نه تراوسه پورې د نظامت او انتظام لوئې ذمه وارۍ په غاړه لری او دغه ذمه وارۍ اعجازخټك داسې پوره كوی چې په متحده عرب اماراتوكښې ټول پښتانۀ ددې خبرې ګواهان دی چې په كوم ادبي پروګرام كښې اعجازخټك نۀ وی نوڅۀ نۀ څۀ كمی به خامخا پكښې وی .

پښتونخواه نه شاعران اواديبان رابلل :

ټولنې دپښتونخواه نه هم خپلو مشرانو شاعرانو ، اديبانو وخت په وخت دوبۍ ته د راتللو تكليف وركړے دے چې دوۍ راشي او په متحده عرب امارات كښې ميشته پښتنو سره اووينی او په خپلو افكارو دپښتنو ذهنونو ته رڼا اوبخښی . په دې مشرانوكښې قلندر مومند، ايوب صابر، پرېشان خټك، سعدالله خان حېران، عبدالكريم بريالے، غازی سيال، سليم بنګش ، پرويش شاهين اؤ اسيرمنګل چې دټولنې په دعوت راغلی دی. د دې هرڅۀ په انتظام ، نظامت، دمېلمنو لۀ پاره دشوی بندوبست، دمېلمنو قدرولواو نازولوكښې داعجازصيب منډه تړره او ناسته پاسته دهرچا نه زياته وه .

سيمنارونه كول :

ټولنې دخوشحال بابا، رحمان بابا، عبدالحميدبابا، حمزه بابا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاطرآپریدی سیمنارونه کړی دي ، په سیمنارونوآورولې شوې مقالې یې چاپ کړې دي او پښتنو ته یې رسولې دی او ددغوسیمنارونوپه راجوړولو او په کامیابۍ سره سر ته رسولوکښې د اعجاز صیب لوې لاس وۀ، دا هم په متحده عرب امارات کښې پښتنو ته د اعجازخټک بخښنه ده .

دتولنې غړو سره ماښامونو تابیا کول :

ټولنې وخت په وخت دخپلو غړو د زړۀ غښتاوي لۀ پاره او دهغوئ دخدماتود اعتراف په توګه ملګرو سره د ماښامونو لړۍ پیل کړه . دغه هم د اعجازخټک آیډیا وه چې هم یې د ملګرو زړۀ غښتاوے اوکړو او هم یې ملګری دي ته اوپارول چې په ملګرو لیك اوکړی او دغسې یې د ملګرو پام یې شاعرۍ سره سره نثر ته هم راوګرځولو چې په نتیجه کښې یې دملګرو لۀ خوادقدروړ لیکنې مخې ته راغلې .

مجله چاپول :

ټولنه په نزدو کښې انشاءالله د یوې خپلواکه ادبي مجلې خپرول غواړي او په دې سلسلې کښې تر ډېره حده پرمختګ شوے دے ، تراوسه پورې په دې حقله شوو هلوځلوکښې زمونږ ټولو نه وړاندې اعجازصیب روان دے

فلاحي کارونه :

اعجاز صیب نۀ یوازې په ادبي کارونوکښې ګړندے دے بلکه فلاحي کارونوکښې هم د چا نه پاتې نۀ دے. دپاکستان سوشل سنټر دبۍ د آفس سیکرټری شپ نه واخله تراوسه پورې دغه دخېرښېګړې کارونه خدائے پاك د اعجاز صیب نه آخلی . ددې خبرې ګواهی دلته ټوله پاکستان کمیونټی ورکولے شی .

د اعجازصیب شاعري :

داعجازصیب شاعرۍ په حقله زۀ بغېر دځۀ پس وپېش نه دا وئیلے شم چې هغوئي شاعری صرف او صرف د دې دپاره کړې ده چې دپښتو ژبې شاعرانو، ادیبانو او د دې ژبې د خواخوږو سره ئې تعلق قائم پاتې شی .اعجازخټك باقاعده شاعری نۀ ده کړې اونۀ شاعرۍ دپاره دومره سنجیده شوے دے لکه پورته ذکرشوو کارونودپاره چې اعجاز صیب څومره سنجیدګی اختیار کړی ده ، په متحده عرب امارات کښې خوپرېږده چې دپښتوادبي چمن ټل لخوا شوې د ړومبی عالمی ادبی کنونشن د پاره ئې پوره دوه میاشتې خپل دوکان بندکړے وۀ. خپل ګاډے یې پوره دوه میاشتې زغلولے وۀ . بل هیڅ کار یې نۀ وو کړے . صرف اوصرف د چندې راغونډولو پسې در په در ګرځېدلے وۀ چې په نتیجه کښې دپښتوادبي کنونشن لۀ پاره لکونه روپۍ راغونډې کړې . د دویم پښتو عالمی ادبی کنونشن دپاره دراقم الحروف او فضل رحیم رحیم سره په درې ورځوکښې څلورشپېتۀ زره روپۍ غونډې کړې او اویې لېږلې . دپښتومینې اعجازصیب دقلم دمیدان نه زیات دعمل په میدان کښې زغلولے دے. اعجازصیب ته خپلې شاعرۍ کم او زیات معلوم دي، که

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور چاته پکښې څۀ کمے ښکاری نوزما په پورتنوکرښو دې لږ غور اوکړی چې د دغې کمۍ زیاتی سبب خو به د اعجازصیب دغه بېخی مصروفیات نۀ وی ؟ځکنی نوزۀ چې د اعجاز خټك نظمونه ګورم ، نو ماته په دې نظمونوکښې یو توان او توانائي ښکاری. کۀ چرې اعجاز صیب لږه توجه دې طرف ته هم کړې وے نو نن به اعجاز صیب د نظم په میدان کښې هم خپله ځانګړتیا په خپلو لوستونکو منلې وے . خو د دې هرڅه باو جود اعجازصیب په نظمونوکښې دپښتنو لۀ پاره د سماجی او معاشی انصاف غوښتنه دپښتنو لۀ پاره نېك بختو ورځو شپو ارمان او د پښتنو لۀ پاره د امن او خوشحالۍ نه ډك ژوند جوت ښکاری چې د اعجازخټك صیب (دشورشور خاموشۍ) چاپ شی او پښتنو ته اورسی نو دا به د دې خبرې ثبوت وی چې د زړۀ مریض، دشوګر مریض، د بچوپه رزق پسې ورك سپین ږیرے، د خپلې شاعری په کم او زیات خبر اعجازصیب ، دپښتو په مینه کښې یو قدم نور هم مخکښې لاړو .

په درناوی
ممتازآورکزے
صدر
داماراتوپښتوادبي ټولنه مرکزدبئ
دوبی ۲۲ مئ ۲۰۱۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

داحساس بڅرى

د کتاب خپروني مسله ډېره نازکه ، مهمه او د ارزښت وړ نقطه ده ځکه چې ډېر ښه ښه ليکوالان مونږ پيژنو چې خپل وړمبی کتاب چاپ کولو کښې ئې ډېره تادی کړې خوولې ورروستو پرې بيا پښېمانه شوی او لۀ مارکيټه او د ملګرو نه يې بيا د واپس آخستو هڅې کړې او ځنې ليکوالان داسې هم لکه سعيد ګوهر، صديق پسرلے ، شمس القمراندېش،خېرمحمد عارف يا سعدالله خان حېران چې په مناسب وخت يې کتابونه خپارۀ نۀ کړل ، د فکروفن نه يې د خپل عصر لوستونکی محرومه پاتې شول . په مطبوعاتوکې رانغلل ، ځيرنې پرې اونه شوې چې لۀ سوبه يې په خپل وخت ډېر آړخونه په تياروکښې پاتې شول او هغه مقام يې په برخه نۀ شو کوم يې چې حق ووځکه ترينه ډېرپه وړاندې لاړل . د ژوند غوښتنې بدلې شوې وې او د نوی کهول ترجيحات نورشول. دې کښې شك نشته چې ښۀتخليق هرحالت ځان ښکاره کوی خودا هم حقيقت دے چې وختونه غواړی اوبيا دا خبره هم دياد وړده چې د هر وخت دفن خپلې تقاضې وی او خپل ارزښتونه او بيا په وخت نۀ خپرېدو کښې کۀ يو طرفته لـه خپلو نيمګړتيأؤ نـه تخليقکارخبر نـۀ شـی نـو بـل طرفتـه د اسلوب او دافکـارو د غـلا امکانـات هـم موجـود وی چـې وروسـتوترېنه نـورې سـتونزې راولاړيږی.

ښاغلی تاج انور اعجاز هم چې هر څۀ وجه وه خو په خپل مناسب وخت يې خپله شعری فنپاره خپره نه کړه . هرڅو کۀ په دوبی کښې د پښتوژبې د خدمت په لړ کښې ادبي هلې ځلې کوی خونن به يې ديوتخليقکار په صفت نور هم ادبی قدوقامت لکه دچنار لوړ وے.

ښاغلے تاج انوراعجاز تقريبا ۱۹۷۰ نه تردې دمه ۲۰۱۲ پورې دوه څلوېښت کاله کبېری چې شاعری کوی کۀ چرې دوی د ۱۹۸۵ نه تر ۱۹۹۰ پورې کتاب خپورکړے وے نو نن به يې دويم څۀ چې دريم کتاب هم تياروے او په ادبي حلقو کښې به د دۀ په فن او افکارو لـه مختلفو آړخونو بحثونه شوی وے . لۀ خپلو خوبئيو او نيمګړتياو نه به خبر وے او اوس هم د مواد په اعتبار دغه مجموعه شورشورخاموشي چې څومره عرصه واخسته ، هغه ضخامت هم نۀ لری. د دې علت هم دا دے چې کله په يو ډنډ کښې اوبۀ ولاړې وی نو ناولې شی او چې کله د وتو لاره ومومی نو بيا تازه او نوی اوبۀ ورته راماتې شـی هـم دغـه مثـال د شـاعری يعنـې د ادب هـم دے چـې د يـو کتـاب خپرېدونـه وروستود بل تا بيا شروع شی .

ديوڅوتمهيدی خبرونـه ورستوچې شورشورخاموشي پـه مـوادو نظـر زغلوو نو بيا وئيلے شو چې په دې مجموعه کښې په بنيادی توګه دوه ژانرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل او نظم پکارول شوی دي چې دواړه ژانرونه خپل ځان کښې ښوځو نموني لری . فکری حوالې سره انقلاب ، د پښتنې ټولنې ستونزې او مینه یې بنیادی موضوعات دی . په انقلاب یې مزاحمت روایتی دے چې لهجه یې ډېره علاقائي شوې ده چې له کبله یې فکر په هنر دروند ښکاری . غزل یې د خپل وخت په چوکاټ کښې روایتی نهٔ دے . په ټوله مجموعه کښې یې خارجی احساسات ، میلانات او واقعات په اندرونی وارداتو او جذباتو غالب شوی . اندازېږي په غزل کښې هم ترډېره حده نظم ته ورنزدې دے. خوکوم وخت کښې چې دغه شاعری شوې دهغه وخت په حواله چې دپښتو په شاعرۍ کښې به زیاترذکرد ګل و بلبل او د جانان دبې وفایۍ وهٔ، ښاغلی تاج انوراعجازپه شعوری توګه ځان ترېنه ژغورلے دے اودغزل لهجه ئې دلاچۍ لونګ په ځائے د غوځوشونډو ده چې لوستونکی په دې نتېجه رسوی چې ښاغلے تاج انوراعجاز خپل ټول صلاحیتونه دخپل قام دښېګړې دپاره دبیدارۍ په نقطه مرکوزکړی وو چې په ځنګ کښې ترېنه د ژوندانهٔ نور حسین او رنګین تصویرونه تت پاتې شوی دی چې د شعوربرخه په کښې د لاشعورپه مقابل کښې زیاته په نْظر راځی او د فن په ځائے پکښې مقصدیت څرګند ښکاری . دا خبره هم ده چې فن مقصدی هم کېدے شی خو د خارجی چاپېرچل مقصدیت کله هم د فن بنیادی ارزښت نه دے پاتے شوے، دفن یوخپل قدر وی چې طویل بحث غواړی خوولې بیا هم ددې مجموعې اهمیت ځکه شته دغه د ذوق یا روحانی خوشحالۍ لهٔ پاره نهٔ بلکه فقط دپښتون قام بیدارولو لهٔ پاره مختلفو مرحلو نه راتېره شوې ځکه خوددې مجموعې معنوی آړخونه مونږ په تلوسو کښې دآچولو په ځائے نبغ په نبغه د قوم پرستۍتحریکونو ته چمتو کوی او د ټولنې د یو ذمه داروګړی شعور رابخښی په دغه حواله څو نمونې :

(نظم ------- احساس)

ملګـــرو ! مانـــه دســرور ډکـــې نغمـــې مـــهٔ غـــواړئ
مانـــه د وخـــت دنمرودانـــو قصـــیدې مـــهٔ غـــواړئ
زهٔ د حـــالاتو کـــربلا بانـــدې مـــاتم کومـــه
مانــه مــاتم کښــې دخنــدا ډکښــې قیصــې مــهٔ غــواړئ

(نظم ------ منزل)

چـــې مـــې لار تیـــارهٔ تیـــارهٔ وی
پکښـــې هـــم وی ګړنګونـــه
شـــل زمـــونږ دي پښـــې لاســـونه
داســـې حـــال کښـــې بـــه ملګـــرو!
مـــونږ اورســـو منـــزل تـــه ؟

ملګـــرو! زهٔ پـــه داســـې ښارکښـــې اوســـم
لکـــه د مصـــر پـــه بـــازار کښـــې اوســـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنـــې ســـرونه مـــې ليـــدۀ پـــه نمرخاتـــۀ پرېواتـــۀ
ځنـــې ســـرونه آخـــر غـــوخ شـــو، ورتـــه نـــۀ پرېواتـــۀ

فيصـــــلې زمـــــونږ د کلـــــې چـــــې پـــــردی کـــــړی
دغـــــــه جـــــــړ زمـــــــــونږ د ټولومســـــــــلو دے

مـونږه پـه سـرۀ اورکښـې ژونـدون لـۀ ډېـر ناکامـه کـوو
طمـــع د ننـــګ چـــې د بـــې حســـه ودۀ قامـــه کـــوو

دکلام لۀ کوټلی مْطالعې څخه وروستو لوستونکی په دې نتيجه رسی چې د کلام لهجه او ژبه د نن دورد لهجې او ژبې سره ډېر توپير لری، پخواه به دشعری صنعتونو (صنائعو بدائعو) استعمال په بيل ډول کېدۀ او د نننی دور دشعرژبه تخيلی او مکمل استعاراتی ده . دې مجموعې کښې کۀ هرڅو د شعری ترکيبونو استعمال کم دے خومجموعی طورسره يې په لفظونو کښې فکری صداقت ئې غزونې کوی، د جذبې شدت او د احساساتو اظهارکښې اعتدالی امتزاج په مناسب ډول خپلوکښې غاړه غړی شوی او په لاچې کښې د ښاغلی سعدالله خان حېران د فکری مکتب روښانه مستقبل لۀ پاره د پښتون قام بيدارولو ښۀ هڅه ده خوجزوی طور باندې فکری سطح باندې پکار ده چې نننی پښتون ليکوال ته چې لږ سوچ وکړی چې پښتون قام بې حسه دے نه رور نا هرګزداسې نۀ ده پښتون قام ته ليډارانو کړی څۀ دی رښتيا دا دی چې زمونږ قام بې حسه نۀ بلکه ننګيالے دے ، دغسې د جمهوريت نظم کښې د اختلاف ګنجائش شته دے خو بيا هم پردې مجموعه کښې ډېرفنې نمګړتيا باوجود زۀ دا خبره په وثوق سره کوم چې ښاغلې تاج انور اعجاز هم په غزل او هم په نظم کښې نۀ خو د چا تقليد کړے دے او نۀ يې د چاپه پل باندې پل ايښے دے ، هرڅۀ چې دی د خپل کلام پېژندګلی يې خپله ده .

خالدپښتون
۱۸ اپريل ۲۰۱۲ء
کوهاټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتراف

چرته زهٔ ، چرته شاعري لکه وريژې اؤ د منجا زامن ،هم داسې قصه زما دشعروادب ده. دا هرڅهٔ اتفاقاً شوی . زمونږ پوره کورنۍ کښې هيڅ داسې يو مشر نهٔ دې تېر شوے چې هغوی په دې جرم ککړشوی وی . زمادومره يادېږی چې زمونږ يو ماما صديق چې يو سماجي انسان وهٔ، هغوی به ماته په وړيکتوب کښې فی البديه شعرونه وئيل ، کېدے شی چې د هغې اثرلاندې ما هم په شعرونه شخوند وهل شروع کړی وي ، لږ چې د ځوانۍ عمرته اورسيدم يعني هغه وخت په لسم جماعت کښې طالبعلم وم چې زمونږ استاد محترم سعدالله خان حيران راباندې په زور دشاعرۍ ستر مات کړو اؤ داسې چې په کال ۱۹۶۹کښې د ګلستان پښتوادب لاچۍ د اهتمام لاندې طرحي مشاعره ټاکلې شوې وه ، زهٔ اؤ زما همځولي شاعران پکښې هم بللے شوي وو، ما هم پکښې خپل مات ګوډ غزل پېش کړو، زمادومره حوصله افزائي اوشوه چې هغه ورځ ده اؤ دا نن ورځ ده چې کهٔ خپله کهٔ هيڅ شعروادب په الف ب پوهې نهٔ شوم خو مشاعرې اؤ ښوښو شاعرانو سره مې ناسته پاسته تراوسه پورې جاري اؤ ساری ده. يو ملګري راته وې چې ستا دپاره ما دوائي راوړي ده کېدے شي چې دا مشاعرو نه قلار شې ، ټول عمر دې په دوخوشو کارونوکښې تېر شو. ماورته وې چې زما دا بيماري ډېره زړه شوې ده، کېدے شي چې ستا په دې دوائي زما شمر اونهٔ شي . رښتيا خبره دا ده کومې پښتو زهٔ په ټولې ادبي نړۍ پېژندلے يم اؤ دومره به ما پښتودپاره څهٔ نهٔ وي کړي لکه څومره چې زهٔ خپلې پښتو شته من کړے يم ګنې پکار خو دا وو چې په دوه څلوېښت کاله کښې ما ډېر څهٔ ليکلے اؤ پښتو ته جولۍ کښې آچولے وے خو زهٔ دا اعتراف کوم چې زهٔ دخپلې پښتو يو غټ مجرم يم اؤ دومره مودي پس ايله بيله يو دخپلې ماتې ګوډې شاعرۍ مجموعه وړاندې کوم اؤ هغه هم د يوډېر مخلص ملګري بلکې د يو ورور په ډېره ټينګه وينا دا مجموعه وړاندې کوم ګنې زما هډو دا خيال نهٔ وهٔ چې زهٔ به هم چرته په ژوندکښې دا څهٔ چاپ کړم . الله تعالی دې زما دغه ورور ته لوې اجرورکړي چې زما شاعري يې د چاپ جوګه اوګڼله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دګــران مشــر م، ر، شــفق صــېب، زمــا دتــورو څنويــار ســعادت سحرصيب، زما غار يار بشير احمد بشير، ، دمسافرئ دژوند د تودو سړو ملګري اؤزيرك انسان ممتازآورکزئي صېب اؤ زما دبې مخه بې ستړه نقاد ملګري خالد پښتون دليکونو چې زما کلام يې ادبي دنيا ته رسولو ناکام اوکړو، ډېر زيات ممنون يم ګنې چرته زۀ اؤ چرته دا شعرونه چاپ کول داسې ناممکن غوندې کار وۀ خو دا هرڅۀ چې دي، يوزما يو داسې کوشش دے چې هيڅ داد نۀ غواړم خوبس دومره چې کېدے شي چې زما کلام څوك اوګوري نو دخپل کلام چاپ کولو هڅه به ضروراوکړي اؤ دا به زما دپاره يو لوئې داد وی .

په درناوي
خاورې اعجازخټك دوبئ
۷ جولائي ۲۰۱۲ء

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنت

۱۹۷۶ء

زړهٔ راتــه وې راځــه ددې دنیــا جنــت تــه لاړ شــو
هلتـــــه د خپلـــــو ارمـــــانونو ارمـــــان اوريـــــږوو

مـا وې چـې تـا ددې دنیـا جنـت لیـدلے دے څـهٔ؟
وې چـــې جنـــت څـــهٔ وی؟ پـــه خپلـــه خوښـــه ژونـــدتېرول

مـا وې چـې دا جنـت بـه چرتـه وی راوئـې ښـایه
وې چـې راځـه چـې درتـه لارې د جنـت اوښـایم

زهٔ پـه مـزه مـزه روان شـوم د جنـت پـه لـوری
څـهٔ ګـورم لارکښـې مـې یـوه لـوړه غونـډی اولیـده

مـا وې چـې داغونـډی دڅـهٔ ده دومـره دنګـه لـوړه
وې چـې هـم دې غونـډی دلانـدې جنتیـان اوسـیږی

مـا وې چـې دغـه خلـق دې جنـت تـه څنګـه راغلـل
نومانـــــه خپـــــل پـــــه غوږکښـــــې داســـــې ګنګوســـــه اوکړلـــــه

وې د ضـــميرلوړې غونـــډی نـــه غورځېـــدلی اول
پـه پټـو سـترګو دې جنـت تـه رسـېدلی دی بیـا

د ژونـد بـازې هـم دغـو خلقـو همېشـه ګټلـې
دا بـې ضـميره خلـق ځکـه جنتیـان یـادیږی

دوئ تـه روا او نـاروا ګـوره یـو شـان ښـکاریږی
دوئ تـــه والله کـــه بـــل انســـان خـــو څـــهٔ انســـان ښـــکاریږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بل په غوښو ښاربۀ شوی، غړمبېدلی دی ډېر
دا په شرابو لمبېدلی، پړسېدلی دی ډېر

تۀ هم که غواړې چې ددې دنیا جنت ته راشې
نو د ضمیر لوړې غونډې نه ځان ګوزار کړه اول
تۀ به په خپله دې جنت ته بې منته راشې
وخت به دې خپله جنتی ددې دنیا اومنی

تاته به خلق په هره لاره سلامونه کوی
ستا په هر ځاے به خلق ډېر ډېر عزتونه کوی

تا ته به خلق بیا ووټونه ښۀ په جار درکوی
هر حکومت به تاته خپله اقتدار درکوی

تۀ به په خپله جنتی ددې دنیا یادېږې
او پس له مرګه ښۀ سړے به په دنیا یادېږی

ستا وروستو مخکښې قطارونه د موټرو به وی
ستا حفاظت ته اهتمام د برېتورو به وی

ما چې د زړۀ دغه رنګینه قصه واورېدله
ماوې چې اے زما ساده زړګیه! اوغولېدې

دغه چې تا وته جنت ښکاری، جنت خو نۀ دے
دلته خو یو انسان آقا، نور غلامان دی پکښې

ورځه ورځه دغه جنت دې هغه چاته یوسه
چې د ضمیر په بدل داسې جنتونه غواړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـــا جنـــت د هـــر انســـان د خپلـــواکۍ نـــوم دے
دي تـــا جنـــت د يـــو انســـان د غلامـــۍ نـــوم دے

زمـــا جنـــت خـــو د يـــو بـــل نـــه زارپـــدلو نـــوم دے
دي تـــا جنـــت د يـــو انســـان د پرزولـــو نـــوم دے

مــا چــې لــه خدايــه کــوم جنــت غوښــتے آدا خــو نــهٔ دے

دغـــــه جنـــــت دې هغـــــه چاتـــــه يوســـــه
چـــې د ضـــمير پـــه بـــدل داســـې جنتونـــه غـــواړی

۲۰ اګست ۱۹۹۰ء دوبۍ

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساس

ماته د وخت ختلی نمر ته تېتېدل نهٔ راځی
ما ته دعشق اودمستی نه ډک غزل نهٔ راځی
زهٔ د اولس په غم لړلی مرثیې لیکمه
دې نه سېوا راته په بل څهٔ څهٔ لیکل نهٔ راځی

ملګرو! ما نه د سرور ډکې نغمې مهٔ غواړئ
ما نه د وخت د نمرودانو قصیدې مهٔ غواړئ
زهٔ د حالاتو کربلا باندې ماتم کومه
مانه ماتم کښې دخنداډکې قصې مهٔ غواړئ

منم چې ستاسو زړهٔ رنګین رنګین شعرونه غواړی
ماته خولې خولې مزدوردکراچی مخکښې شی
وایم چې تاسو ته مې شونډې زلفې اوستائیلے
راته بدحال د خپل اولس د بې وسی مخکښې شی

داوچې شونډې چې وختونوترې خنداوړې ده
دخواراولس دشونډوکومې رنګینی اوستایم
ملګرو! وایئ چې مستی او که ماتم اوستایم
تاسوخوشحال کړم اوکهٔ خپلې بې وسی اوستایم

یو خوا بربند، لغړ بچی دخوار مزدور وینمه
بل خواغټان نشوکښې مست مخمورمخمورووینمه
خدائیګو ترې سترګې زهٔ په بل خوا اړولے نهٔ شم
چې د وخت ژرنده کښې دل شوے خپل جمهور وینمه

وایم چې تندر شوے، اسمان نه پرې راپرېوتلے
چا چې زما د اولس شونډو نه خندا وړېده
وایم چې اورشوے، ورته چغه دغیرت جوړه شوے
چا چې زمونږ خوارو جونګړو نه رڼا وړېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ یو شــاعر یمه چــې چرتــه ځــوک ســلګۍ اووهــی
زمــا پــه زړه کښــې د آهونــو د نــدو کارجوړ شــی
وخــت چــې د چــا د ارمــانونو مــری اوخرپــوی
ورســره ســم زما پــه زړۀ کښــې ویــر ناتــار جــوړ شــی

زمــا شــاعری ده، د اولــس د ســوکالۍ لــۀ پــاره
زۀ خــو لیکــل کــوم د ژونــد د خوشــحالۍ لــۀ پــاره
زۀ خپــل غــزل تــه چرتــه ډمــه ګــډولے نــۀ شــم
نــۀ شــم کــولے شــاعری د خرمســتۍ لــۀ پــاره

۱۹۷۶ء لاچی

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــکل

د ښائیســـــت او د ښـــــکلا پــــه کلـــو گـــرځم
پکښــــــې مینــــــه او وفاگـــــاني لټومـــــه
رنګینــی چــې د نظــر کچکـول کښــې راوړم
تصـــــویرونه تــــرې د ښــــکلی جوړومـــــه
تخیــل چــې زمــا مســت شــی نــو اوخانــدم
ځـــــان ســــره ټولــــه دنیـــــا اوخاندومـــــه
داســې وخــت کښــې مــې احســاس راولړزیــږی
څـــو شـــعرونه پـــرې د ســـوی زړۀ لیکمـــه

کلــه کلــه چــې د ژونــد بــازار تــه لاړ شــم
لـــوټ پــــه بیعــــه انســــانان پکښــــې خرڅیــــږی
مـــا ســـودا د خپـــل ضـــمیر پکښـــې کولـــه
وې چــــــې دا دلتــــــه پرېمانــــــه ملاوېــــــږی
نوراســتون شــوم خپــل تنــدی تــه مــې ټــق ورکــړو
مــا وې دلتــه کښــې خــو مــړه خلــق اوســیږی
ســــړیتوب نــــه دلتــــه خلقــــو لاس ویــــنځلے
بــس چــړې د ظلــم یــو پــه بــل گزیــږی

بیــا راوان شــم، د احســاس پــه نیلــی ســور شــم
وردننـــه پـــه ســـپین کـــور شـــم د پړانگـــانو
مـــا وې خبـــر د امـــن غواړمـــه لـــۀ تاســـو
اے د امـــــن دعـــــوه گیـــــرو انســـــانانو
فلســطین او پــه کشــمیر کښــې چرتــه اورئ
دا بـــې وســـه شـــان ســـلگی د مظلومـــانو

د غیــرت کــور مــو کابــل شــو لــوټې لــوټې
ککـــــرې پکښــــــې الـــــوځی د ځوانـــــانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې نوا بيا د قامونو کور ته لاړم
ما وې امن پسې دلته يم راغلے
خو افسوس هلته قصه څۀ اپوټه وه
هر کمزورے وۀ لېوانو پرزولے
دلته مور د امن مړه خو لا پخوا وه
دا لا چا وې چې مظلوم دے چا ژړلے
د کمزورو دلته حق د ژوندون نشته
د ژوندون حق يې هيچا نۀ دے منلے
سوداګانې د يو بل پکښې کېدلې
دا قصې مې هلته ډېرې اورېدلې

نو بيا راغلم خپلې خړې پښتونخوا ته
ما وې ځان که په دنيا پېژندل غواړئ
نو راويښ شئ ګڼې وخت به داسې راشي
هيڅ به نۀ شئ که بيا ډېر څۀ کول غواړئ
حق غوښتے نۀ شي په زور اخستے کېږي
نو راپاڅئ که خپل ځان مو ګټل غواړئ
ګورئ نه چې د برلين دېوال راپرېوت
نور به څۀ نمونه تاسو ليدل غواړئ
دکوريا خلق هم ګوره يو ځاے کېږي
د تړون رسۍ به کله نيول کېږي

د نړۍ د واقعاتو سبق واخلئ
دا ترڅو به تاسو خپله کښې جنګېږئ
هر بابا درته ويلې دا صفا دی
که ويښ نۀ شوئ پښتنو! ګوره ورکېږئ

آګست ۱۹۹۰ء دوبۍ

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپونکی سندره

ځنو واورېده کانۀ شو
ځني پوه پرې هډو نۀ شو
لر او بر کښې آورېدے شوه
د شپونکی د خلې سندره
چې چا واورېده کنۀ؟

وې چې خدائے پاک پیدا کړی
په خپل فضل پښتانۀ دی
ګران په ما چې لۀ هر څۀ دی
د مودو راسې ودۀ دی
بس هم دا راوېښوومه
لېونی د خلې خبرې
چې چا واورېدې کنۀ؟

تر آتۀ سوه کالونو
چې یې راج کړلو په زړونو
د پښتون په نوم تر عمره
یادولو تاریخونو
هغه قام راپاروومه
ورته ځان وریادومه
د شپونکی د خلې سندره
چې چا واورېده کنۀ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل زوره خبر نه دی
ګنې نه دی دومره مړی
ښه ساده دی ښه سپین زړی
دا څوک نه غواړی هیڅکله
چې دې ویښ شی دا وګړی
دنیا اوخته سپوږمۍ ته
دوئ په خپله کښې اخته دی
وې چې دوئ بس پوهه وومه
سړیتوب ورته ښایمه
د شپونکی د خلې سندره
چې چا واورېده کنه؟

چا چې واورېده روان شو
نه په ځان نه په جهان شو
ځنو وې چې کافران شو
ما وې ښه مسلمانان شو
د ایمان خاوندانان شو
خو نه دا یې چرې اووې
د جنت ټیکه داران شو
نه یې دا خبره اوکړه
چې اسلام ته خطره ده
بس همدغه څو کسانو
د شپونکی د خلې سندره

دا سندره تل وئیله
خپلواکی د خپلو خلقو
مونږ په خپله خاوره غواړو
دا وطن مو پلار نیکونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــــه ســــــرو ويـنـــــو دے ګـــــتلے
نـــــن پـــــــرې ګېــــــده راچـــــولې
څـــــو پړانګـــــانو څـــــو لېوانـــــو
نـــــو مــــــونږ دا نـــــۀ شـــــو زغملـــــے
چــــــــې بـــــــه دوئ ټېکـــــــداران وی
پکښـــــې مــــــونږه بــــــه خــــــواران وو
بـــــس هـــــم دا نـــــۀ شـــــو کـــــولے
ځـــــان تـــــه حـــــق غـــــواړو پـــــه نـــــره
خـــــــو يــــــــوه خبـــــــره واورئ
کـــــۀ يـــــو ځـــــان نـــــه شـــــو ملګـــــرو
لاس بـــــــــــــه مـــــــــــــروړو
بيــــــــــــا بـــــــــــه ژاړو

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ او تۀ

تـۀ دې ورځ پـه ورځ غټېږې، زۀ چـې خـوار يـم لا دې خوارشـم
تــۀ خــوويني دخپــل قــام خښــې، زۀ دې هســې ګـهنګــار کــړم
دا لا څرنګــې انصـــاف دے، داســې ولـــې اخـــر کيــږى
زۀ پـه دې خـاوره پيـدا يـم، ولـې بيـا دې هـم غـدار شـم

ســتا بچـــى دې ســبق وائـــي، پــــه لنـــدن او امريکــې کښــې
او زمـــا بچــــى لګيـــا دى، څپــــر لانـــدې مدرســـې کښـــې
ســتابچى چـې دلتـــه راشـــى، پــاتې کېــږى بــه بنګلــې کښــې
او زمـــا بچــى بـــه ناســـت وى، څوکيـــدار يـــې دروازې کښــې

دا لا څرنګــې قصـــه ده، چـــې لنــډيږى نــۀ اوږدېــږى
دا څــۀ داســې ماشــوړه ده، چــې ورانېــږى نــۀ سـمېږى
د مغــرب خبــرې دلتــه پــه مشــرق کښــې چــې چلېــږى
دا زمـــا نېســتى بـــه دلتـــه، خــدائيګو کلــه نــه غــوڅيږى
دا تــۀ تــۀ يــې او زۀ زۀ يـم، دا قصـه چـې ختمـه نـۀ وى
دا د ځـــان ځـــانى خبـــرو دبدبـــه چـــې ختمـــه نـــۀ وى
د زورګيـرو پــه دې زمکــه، دبدبــه چـې ختمـه نـۀ وى
ســتا پــه ســر کښــې دا زمــا د ســر ســودا چــې ختمــه نــۀ وى

ستـا بـه سـر تـه خطـره وى، همېشـه بـه زۀ پـه دار ووم
ســتا خوبونــه بــه حــرام وى، زۀ بــه هــم پــه هــاے نتــار ووم
تـۀ بـه دغسـې څربېږې، زۀ بـه هـم دغسـې نـادار ووم
دغـه زمکـه زمـا مـور ده، زۀ بـه تـل ورځنـې ځـار ووم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زما او ستا خبره د آقا او د غلام ده
ته هوس يې په مخ کړې، ستا مقصد عيش و ارام دے
ستا به لاس کښې چې زه وينم، د غريب د وينو جام دے
ما ته ژوندِ زما پکار دے، دا زما د ژوند ناکام دے

چې لندن او امريکې کښې ته زما سودا کوے شې
څنګه ژوند به بيا لۀ مانه په دې مځکه تېروے شې
زۀ به مينه ټول په ټول شم، که ته داسې هم کوے شې
خپلواکي د پلار په وينو کۀ ګټلے راکوے شې

ته مې سر تيټول غوړې، داسې کله زۀ کوے شم
ما کۀ ته آخستل غواړې، نو زۀ کله خرڅېدے شم
کۀ ته ما خپلول غواړې، نو زۀ مينه درکوے شم
کۀ جنت جوړول غواړې، نو زۀ مينه درکوے شم

دلته سر د يو انسان دے، هلته تا جوړ کړے دار دے
تا جوړ کړے لا زمونږه په سرونو اقتدار دے
خو کۀ وطن جوړول غواړې، دا وطن به ټول جنت شی
زۀ او ته به جنتی شو، په نصيب به مو راحت شی

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه او وطن

مـــا بــــه تــــرخ کښــــې کتابونــــه وو نیــــولی
پــــاس پــــه بــــام یــــوه جینــــۍ بــــه وه ختلــــې
زهٔ چــې تلــم پــه کومــه لار بــه مدرســې تــه
دې خنــدل بــه راتــه پــټ پــټ غلــی غلــی
مـــا بـــه وې چـــې لا وړه ئـــې نـــهٔ پـــوهیږې
زمـــا لار کښـــې یـــهٔ جینـــۍ! څلـــه اودرېـــږې

دې بــــه هــــره ورځ پــــه ګتــــو زهٔ ویشــــتلم
دې بــــه خامخــــا مــــدام داســــې چیــــړلم
د دنیــــــــا او مافیهــــــــا نــــــــه نــــــــاخبره
دې بــــه ماتــــه زهٔ بــــه دې تــــهٔ خندېــــدلم
مـــا وې هســـې نـــهٔ خبـــره دا د نیـــا شـــی
دغــه خلــق بــه دښــمن زمــا او ســتا شــی
دې بـه وې چـې زه لـیلا تـهٔ مـې مجنـون یـې
زمــا زړهٔ او زمــا، ځــان زمــا ژونــدون یــې
دې وې زهٔ کــهٔ څــهٔ پــروا ددې دنیــا کــړم
بــس یــو تــهٔ، زمــا د ســوی زړهٔ ســکون یــې
زهٔ پــــه دې او دا پــــه مــــا بــــه نازېدلــــه
هــیڅ پــه ســود او زیــان د ځــان نــه پوهېدلــه

دا جینــــــۍ چــــــې ورو پــــــه ورو رالوئېدلــــــه
چــــم ګاونــــډ کښــــې ډېــــرو خلقــــو اوغوښــــتله

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زما نه يې څوک خوښ په دنيا نۀ وو
ما هم ځکه دا په مينه اوکوئېدله

نو روان د ژوند په لار غاړه غړی شو
خپل خپلوان مو د وادۀ، په تياری شو

د وادۀ نېټه مو راغله، رانزدې شوه
آخر ناوې شوه، ډولۍ کښې کښېناستله
مور او پلار په دعاګانو دا رخصت کړه
په سندرو کښې همزولو اوستائيله
په جامو کښې نن دا کله ځائېدله
سرې ډولۍ کښې زمونږ کور ته چې راتلله

په حجره کښې درزاهار وۀ، د ډولونو
يو باران وو نن په ما د سرو ګلونو
چې يو غږ شو هلته شابه زلمو پاڅئ
ضرورت دے نن وطن ته د سرونو
ګڼې هسې هم بې نومه بې نشان يئ
په تاريخ کښې که ياد شوی سربازان يې

ما وې نن مې چې وطن ته ضرورت دے
دا يم وراغلم چې زه ورنه قربان شم
ما وې نن مې په وطن شوے يلغار دے
کۀ دا اونکړم نو ورک به لۀ جهان شم
ما وې مينه، وينه دواړه به ترې ځار کړم
غاښ به مات د هر غليم د هر غدار کړم

دوبۍ ۱۹۷۴

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما وطن

چـــې پـــرون وۀ، هغــــه نـــن دے
هغـــــه ملـــــک ، هغـــــه وطـــن دے

هــــر چـــا اوخـــوړو کــــۀ هــــر څـــو
ولـــې بيـــا هـــم ډېــــر شــــته مـــن دے

د اســـــلام پــــه نـــوم جـــوړ شـــوے
پکښـــــــې زور دے د خــــــــدايانو

زمــــا هېــــر برکـــت شــــاه شـــی
دا چـــــې اوخـــــوړو پړانګـــــانو

زمـــا لاس کښـــې چـــې ټوپـــک دے
او د امـــــن کـــــړم غوښـــــتنه

مېړتــــون بانـــــدې چـــا کــــړې
د لــــــړم د ســــــر ســــــاتنه

دا خـــــو داســـــې رنـــــګ قصــــه ده
چـــې مجنـــون يـــم لـــيلا غـــواړم

داســـــې حـــــال کښـــې زۀ ملګـــــرو
د وطـــــن ســــــندرې وايـــــم

۴۱ اګست ۲۰۰۰

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښـتنه مېـرمن

چـــې یـــادېږی همتناکـــه، حیاناکـــه، مینـــه ناکـــه
ښـــتې غونـــدې بـــه ښـــځه پـــه دنیـــا کښـــې څـــوک پیـــدا کـــه

شی د غوا غوجل نه سترې، په کټوی کړی لاس ورپورې
د روټو ټبا کړی سمه، بیا تنور سره به ئې ګورې
یوځــواکړې، بــل خواېشـــې، اے میراتــه شـــې اے کـــورې
اے آخته په نوی رنځ شې، کړی بچو ته ستغې سپورې
د سحر نـه تـر مابښـامه، کـوی داسـې چـارې نـورې
پــه دنیــا کښـــې چرتــه وی بــه داســـې بلــه زورناکــه
چــې ستائینه دعظمــت یــې پــه داخــوی ټولــه دنیــا کــه
دکچــه ښــتو پـــه کــور کښـــې دا د حســـن شـــهزادګی وی
د حیــا پــه لوپټــه کښـــې یــوه ښـــکلې ښـــاپیرۍ وی
داپـــه کورکښـــې راحصـــاره لکـــه بنـــده چـــې هوســـۍ وی
هـــیڅ پـــه خونـــد د ژوندانـــهٔ کـــه پـــوهې دا د زنـــدګۍ وی
دپښـــتون دکورمېرمنـــه، دخاونـــد د پښـــو څپلـــۍ وی
دا مظلومـــه حقیقـــت کښـــې یـــو نامـــه د بنـــدګۍ وی
کهٔ هر څو ډېره زورېږی، دا نهٔ اُف کوی نهٔ اه که
پــه دنیــا کښـــې چرتــه وی بــه داســـې بلــه همتناکــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې خاوند يې غرۀ نه راشی، ورته داسې دا خندا که
بيا جاجوس په منده راوړي ، ورته دا ډکه پياله که
ستومانی د ټولي ورځې په يو دم ئې دا فنا که
تبر، لور ورنه سنبال کړی، ډکه دا ورته پياله که
دا رنګ مينه، خدمتونه د خاوند هميشه دا که
په دنيا کښې چرته وی به داسې بله همتناکه

دايې لاس وپښې چاپې کړی، تر هغې چې دابنه دمه شی
دپښتون دکور مېرمنې، زړۀ بياهغې وختې ښه شی

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعلان

د سحر نه تر ماښامه
شپه او ورځې به لګیا وی
کروندې او اوبه خور به
دهٔ په وچ اوکړسېدلی
وجود هره ورځ کولو

دا سپین ږیرے هر سحر به
لهٔ خپل کوره راوتلو
چې ماښام به کور ته لاړو
چرته سپر نیم وړهٔ بچو ته
په خیرن څادر کښې یوړو

خدائے بچی وو ډېر ورکړی
ژوند یې څهٔ وهٔ یو دوزخ وهٔ
پکښې دا به سوزېدلو

په دلو دلو غنم به
د خان کور ته یې لېږلو
خو ددهٔ په خوار قسمت کښې
یو چپه وچه ډوډۍ وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يـــــوه ورځ ســــــحر وختـــــى چـــــې
کلـــــــــــه دا راپاڅېـــــــــــــدلو
شــــــــهزادګی د ژوندانــــــــۀ تــــــرې
لـــــــرې لاړه هغـــــه ځـــــاے تـــــه
چـــې تـــــرې بيرتـــــه هغـــه ځـــاے نـــه
هيڅـــــوک بيـــــا نـــــۀ دی راغلـــــى

نـــــو مــــلا صــــېب د جماعـــــت نـــــه
دا اعـــــــلان اوکــــــړو ملګـــــــــرو!
چـــــــې د برکلــــــــــى خانــــــــانو
هغـــه خــــوار غريـــب نـــوکر يـــې
ماسپښـــــين لمانځــــۀ نــــه وروســـــتو
ددۀ خـــــوار بـــــه جنــــــازه وی
دا بـــه خـــاورو تـــه ســـپارے شـــى

جنــــازه چـــــې د ســــپين ګـــــل کاکــــا
لـــــــۀ خپــــــل کـــــــوره راوتلـــــــه
خپلـــــــــو لونــــــــو او ځـــــــــامنو
ورتـــه ســـقاط کښــــې خپلــــې اوښــــکې
تويـــــــــــــولې او لېږلـــــــــــــې

دا د هغـــــــه چـــــــا نـــــــوکر وۀ
چـــې پـــه کـــور کښـــې هـــره شـــپه بـــه
خرمســــــــــتی دی چـــــــــې کېـــــــدلې
خـــــو د دۀ خــــــوارو بچــــــو تــــــه
ســـــــپورې ســـــــتغې او ديکـــــــې وې

هغــــــه کـــــــور د لــــــوئ خـــــان وۀ
هلتــــــه تــــــل شـــــراب کبـــــاب وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـــــه کـــــور د يــــــو غريــــــب وۀ
دلتــــــــه لــــــــوږه، دلتـــــــه تنـــــــده

د غريـــــب ســــړی پــــه کــــور کښـــــې
وچ ســـــــوکړک تشـــــــې شـــــوملې وې
ډېـــــــر ځـــــامن او ډېـــــــرې لونــــــه
دا يـــــــــې لويــــــــه ســـــــــرمايه وه

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا څوک دے؟

پــــــــــــــــه زړو لارو روان دے
عجیبـــــــه غونــــــدې انســـــان دے

نـــــۀ خبـــــر لــــۀ خپلــــه ځانـــــه
نـــــۀ خبـــــر لــــۀ دې جهــــان دے

دا چـــــې چرتــــه ګټــــه ګــــوری
نـــــو خــــتلے تــــر اســـمان دے

کـــــۀ یـــې هلتــــه کــــار اونـــۀ شــــو
بیــــا پــــه بـــــل خــــوا دا روان دے

وروســـتو مخکښـــې هـــیڅ نـــۀ ګـــوری
نـــۀ پـــه ســـود او نـــۀ پـــه زیـــان دے

کـــــۀ تـــــا غـــورړه ګوتــــه ورکـــــړه
نـــو بیـــا تـــا ځنـــې قربـــان دے

څـــــۀ چـــــې زړۀ ورتــــه اووائـــــی
هغــــــه کـــــار پســـــــې روان دے

زړور دے خــــــو بیـــــا ولـــــــې؟
د ورور مـــــرګ ورتــــه اســـان دے

پـــــه ترخـــــې دا نـــــۀ پـــــوهیږی
خـــوئ یـــې دا رنـــګ څـــۀ بـــل شـــان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خبرو دے که پوهه کړې
نو بیا سخت لکه سندان دے

خو افسوس چې نۀ پوهېږی
بس یو دا پکښې نقصان دے

ګنې عقل، فکر ډېر هم
خدائے ورکړے ښۀ پرېمان دے

دا په خپله ځان ته سپر دے
ددۀ بل شانې ګزران دے

ددۀ چرت نه خرابېږی
څوک سپوږمۍ ته که روان دے

دا چې اورسی پنجاب ته
بیا یاد شوے دا په خان دے

که دا لاړ شی کراچۍ ته
خلق وائی چې پټان دے

دا په خپله هرځۀ، هرځۀ
دا په ما باندې ډېر ګران دے

چې زما د قام زلمے دے
زما روح دے، زما ځان دے

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

آزادي

هغه ازادي چې مونږ په سرو وينو ګټلې ده
تش د زنده باد په نعرو مونږه تل پاللې ده

هغه ازادي چې ماوې جوړ د امن کور به کړم
هغه مې لهٔ سره نه ليدلې، نه موندلې ده

هغه ازادي چې مونږ د سر په بدل غوښتې ده
هغه اقتدار دپاره مونږ نيمه بائيللې ده

هغه ازادي چې خوشحالي اوسوکالي راوړي
هغه هره ورځې هره شپه مونږه ژړلې ده

هغه ازادي چې د اغيارو منت باره ده
هغه خو نن ځکه دم ختلې، ساه راښکلې ده

هغه ازادي چې دشپونکي د خلې سندره شي
هغه د خيبر په دنګو غرو کښې غلې غلې ده

هغه ازادي چې مونږ ته زېرے د سحر راوړي
هغه تورو شپو کښې د حالاتو مونږ ليدلې ده

هغه ازادي چې مونږ يې غواړو ولې نهٔ راځي
هغه بيا لهٔ سره د سرونو قرباني غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ازادي چې مونږ يو موتی، يوه خله کړي تول
هغه ښـهٔ پـه زوره ترانـه د افغـانی غـواړی

هغه ازادی چې تـول وطـن پـرې مينـه مينـه شـی
هغـه د اعجـاز غونـدې سـرتيره لېـونی غـواړی

۱۴ اگست ۱۹۹۷ دوبۍ

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

منزل

چې مې لار تیارۀ تیارۀ وی
پکښې هم وی ګړنګونه

شل زمونږ وی پښې لاسونه
او په سترګو هم ړاندۀ وو

دا سې حال کښې به ملګرو!
مونږه اورسو منزل ته

که زمونږه دغه حال وی
دا خو دوه پنځوس کالونه

داسې زرکاله که تېر شي
مونږ به وایو چې روان یو

خپل منزل ته به رسیږو
ولې دا به زمونږ خیال وی

حقیقت کښې به ملګرو!
دا به تش د خوب لیدۀ وی

هغه ملک چې مونږ ګټلے
په یو نوم د دین اسلام وۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـــونږ پـــرې داســـې کـــانې اوکـــړې
جماعتونـــه مـــو مـــورچې شـــوې

او کورونـــه مقبـــرې شـــوې
مـــونږ يـــو بـــل تـــه نېغـــې تـــوپې

تـــل د کفـــر دی نيـــولې
نـــهٔ پاخـــهٔ مســـلمانان شـــو

نـــهٔ خـــو پـــوخ زمـــا ايمـــان شـــو
داســـې حـــال کښـــې بـــه ملګـــرو!

څنګـــه يـــو مـــوټے او يـــو ځـــان شـــو
تـــش د خلـــې پـــه ډزو ډوزو

کـــهٔ پاخـــهٔ مســـلمانان شـــو
چـــې هـــر کـــس پکښـــې ليـــډر دے

د هـــر چـــا خپلـــه پـــارټی وي
هـــر يـــو ځـــان لـــه پکښـــې ســـپر دے

دا بـــه څـــومره ځـــان ځـــانی وی
دا ســـې حـــال کښـــې بـــه ملګـــرو!
مـــونږه اورســـو منـــزل تـــه

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولانا استاذُنا عبدالمنان عبيد دويم ماذون صيب
د لاچی

يادګيرنه:-

د سينی خټکو روحانی، علمی شخصيت **مولانا استاذُنا عبدالمنان عبيد** د کال ۱۹۷۷ د جون د مياشتي په ديارلسمي نېټي د نری بس په حادثه کښي په حق اورسېدۀ. په صابر اباد ضلع کرک کښي د خپل استاد د جنازې نه په واپسۍ کښي ورته دغه حادثه پيښه شوه.

د خټکو د سر سيوری، د خټکو د زړۀ سر وۀ
دحالاتو په تيارو کښي رونېدلے سپين سحر وۀ
ترېنه جمع چارچاپېره به هر وخت وۀ تږی زړونه
ناقلاره زړو دپاره د سکون حوض کوثر وۀ

خټک هسې هم ډېرخوار وو، اوس لا نور هم خواروزارشو
دهستۍ لوړې غونډۍ نه حقيقت کښي راګوزار شو
چې سالار راځنې لاړو، د مرګی په خوب ودۀ شو
پښه نيولی کاروانونه سمه لاره کښې ايسار شو
د رسمونو، رواجونو بتخانې يې نړولې
په مړو زړونو کښې يې شمعې د توحيد به بلولې
کۀ هرڅو په چاپيرچل کښې هره خوا تيارۀ تيارۀ وه
دا تيرې د ګمراهئيو په ايمان يې رونولې

دانسان د احساس سترګې ړندې شوې وې ملګرو!
ورور د ورور په مری ناست وۀ، دبل غوښې يې خوړلې
انسانانو کښې د مينې وروروولۍ جذبات ساړۀ وو
مړې سکروټې وې، ايرې وې چې بس دوئ به پوکولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خټک اوس لا سونه مړی، سر تندی وهي په زوره
خدایه! نه دې دزغملو، دغه غم څه داسې غم دے
خلق ډېر دی پیداشوی خو بیا هېر شي پس له مرګه
خو په مرګ د مولوی صیب نن په هر سړی ماتم دے

دے چا نه وه پېژندلے دوئ هر څوک وو پېژندلی
خو په مرګ یې بیا هر چا وو ښه په زوره زور ژړلی
د فساد تورو تیارو کښې د توحید بله ډیوه وه
د اعجاز غوندې بې لارو ته یې سمه لار ښودلی

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصور او خوب

لکــه د ژونــد تــودو ســړو نــه یــو ســتومانه زړګــے
دچــا خیــالونو کښــې ځــان ورک کــړی ســتومانی اوباســی
یــایو مئــین زړۀ چــې مایوســه شــی، دچــاراتلو نــه
نــور وس یــې نــۀ وی خــودخلې نــه اسـوېلی اوباسـی

یــایو خــولې خــولې مــزدور چــې پــه خپــل کــټ او پــوزی
خپــل مــات وجــود ودۀ کــوی، بــې ارامــی اوباســی
یــا یــو د هــاړ تنــدې وهلــے چــې پــه جــام پرېــوزی
پــه غټــه غــټ اوښــی اوبــۀ، تــاؤ لــۀ زړګــی اوباســی
داســې زۀ هــم چــې کلــه کلــه نــاقرار شــمه دېــر
راځــی کــۀ نــۀ راځــی څــۀ خــوب خــو ځــان پــه زور ودۀ
کــــــــــــــــــــــــــــــــړم
کلــه پــه مخــه مــې چــې خپــل ســوی فکرونــه واخلــی
ځــان لــه یوښــکلی شــان رنګینــه دنیــاجوړه زۀ کــړم

چــې تصــور دې کلــه کلــه را پــه زړۀ شــی ګلــې!
وایــم چــې والــوتے او تاتــه پــه هــوا دراغلــے
روغ لېونـے شـم، نـۀ پـه ځـان نـۀ پـه جهان ووم ګلې!
هــر څــه چــې کېــږی خــو یــو ځلــې خامخــا دراغلــے

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکـه شـاعر بانـدې الهـام چـې د شـعرونو اوشـی
قلـم راواخلـی او کاغـذ بانـدې غـزل اولیکـی
پـه تصـور کښـې پـه وطـن د ښـاپیرو اوبلوسـی
هلتـه د حسـن ښـاپیرئ سـره چیـړل اولیکـی

او کلـه خیـال کښـې چرتـه لاړ شـی دجانـان غیږ.ې تـه
هـر یـو انـدام تـه یـې حیـران شـانته لیـدل اولیکـی
دا مصـور چـې یـو رنګین غونـدې شـاهکارجوړوی
ورسـره سـم د خپـل مئـین زړهٔ درزیـدل اولیکـی

دغـه شـاعرچې پـه لفظونـو کښـې تصـویر جـوړوی
ځان ته یو ښکلے شان رنګینه ښاپیرئ جوړه کړی
دغه شاعر چې د خپل خیال په رنګینو کښې ورک
شـی
په تصـور کښـې ځـومره ښـکلې دنیاګئ جوړه کړی

وایـم تـر څـو بـه مـې پـه زړهٔ بانـدې وربـږ.ې ګلـې!
آخـر شـاعر یـم قلـم پورتـه کـړم غـزل اولـیکم
پـه تصـور کښـې دې سـرې شـونډې، سـپین رخسـار
راولـم
زړهٔ غلـوم، ورتـه شـعرونه د چـل ول اولـیکم

ځکـه زهٔ چـې ارسـطو د مملکـت نـه ګلـې!
د تصـور پـه دې ګنـاه ویسـتلے شـوے یمـه
اوس هـم هغـه یـم، د خیـالونو د دنیـا اپلاطـون
پـردو خـو پربـږ.ده، خپلـو هـم ډیـر ډیـر رټلـے یمـه

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاچي کلي ته د يو وزير په راتلو

چرتــــه خبـــره چـــې د خبېتـــي مړولـــو اوشـــی
د ســترګو رپ کښــې ورتــه هلتــه خېټــه ور اورســی
يـــا آوازه د يـــو وزيـــر نـــيم د راتللـــو اوشـــی
ورتــه ســتر خېټــی وړی تــړی دومــره زر اورســی

چرتــه وزيرچــې لارخطــاکړی زمونږخوالــه راشــی
نوورتــه مخکښــې خودعرضــه څومشــران اودروی
شغ شـی وزيرچـې ورنـه تېـر شـی، خـړې خلـې پـاتې شـی
دوئ وازه خلــۀ لکــه ســرکوزی ګيــدړان اودروی

چرتــه وزيــر تــه کــۀ يــو کلــی کښــې تيکالــه اوشــی
ورتــه ســترخېټی او پلــن ســری څــو مشــران راشــی
امســا پــه لاس، نېغــه شــمله دکلــی خــان او ملــک
د مـــودو اوړی ورتـــه داســـې غريبـــان راشـــی

يـــا کلـــه وخـــت چـــې د ووټونـــو آخســـتلو راشـــی
مـــونږ غريبـــانو تـــه هـــر خوانـــه ليـــډران رادرومـــی
مطلـب يـې خپـل وی، دروازې ولـې زمـونږ مـاتوی
غـــرض راخســـتی مونږتـــه داســـې ډېرکســـان رادرومـــی

داسـې مشـران بـه وائـی، مـونږ تـه وايـه ګټـه اوکړی
چـاچې مـدام دخپـل اولـس پـه سـر روپـی اخسـتې
دا هـــم هغـــه دی، د انګرېـــز خوشـــامدګرو څـــامن
چـــاچې انعـــام کښـــې د انګرېزنـــه نـــوابی اخســـتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے د مشـــرانو نـــه محرومـــه ليونـــو ختکـــو!
راځــئ چــې مشـر ځــان لــه اوګـورو، لښـکرجوړکړو
دوخـــت ځانګوکښـــې ودهٔ شـــوو اے پرتـــو ختکـــو!
پـــاڅئ راويښ شـــئ چـــې د شـــپې ځنـــې ســـحر جـــوړ کـــړو

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قربانۍ غوایهٔ

یو ساتلې شان غوایهٔ وهٔ
داسې بل کلی کښې نهٔ وهٔ

هر چا غوږ نه وهٔ نیولې
ښکر چې يې نهٔ وهٔ ځکه ښه وهٔ

سوداګرو کله یو خوا
کله بل خوا ګرزولو

نهٔ يې پرش وهٔ چا لیدلې
نهٔ يې څوک راپرزولو

قصابانو ددې کلی
قربانۍ ته وو ساتلې

ددې ګډو بزو وطن کښې
بې قیمته وهٔ ختلې

د آختر نه مخکښې دغو
ظالمانو نن قربان کړو

ددې ګډو بزو وطن کښې
ژوند يې هر خاروی ته ګران کړو

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختر مو مبارک شه

فلسطین کښې چې سرې وینې دی بهېږی
سرۀ اورونه په عراق باندې ورېږی

افغانان سره په خپله کښې ستړی
په کشمیر کښې لږ په ډېرو راسورېږی

چیچنیا او په بوسنیا کښې چې څۀ کېږی
مسلمان دے په هر ځائے کښې چې قتلېږی

داسې حال کښې چې راغلے دا آختر دے
خلۀ زما مبارکۍ ته نۀ جوړېږی

خو مجبور یو چې زمونږه خوشحالی ده
ځکه یو بل سره خاندو، خوشحالیږو

خو بیا هم دومره بې خونده خلق نۀ یو
چې د ورور په قتلېدو به نۀ دردېږو

ځکه وایو چې آختر مو مبارک شه

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو تاثر

لکـــه يــو تــرږے مســـافر چــې د اوبــو پــه طمــع
دڅـــا پـــه در لکـــه ســـوالی ســـتړے ســـتومان اودرى
تـش دجـامونو پـه کړنګـا يـې خلـه اوبـۀ اوبـۀ شـى
دا د يـو ګـوټ پـه طمـع هسـې حـق حېـران اودرى

داسـې هـم ماتـه يـې کـول د سـترګو تـش سـتونه
کلـه پيـرزو يـې وو پـه مـا د مينـې دا خوندونـه

يـا يـو يتـيم چـې ورږے تـږے د چـا کـور لـه راشـى
ورنـــه ډوډئ غـــواړى د خېټـــې لېـــونى پـــه خـــاطر
دکـور خاونـد يـې پـه ديکـو ديکـو لـۀ کـوره شـړى
دےاورتـــه پښوکښـــې بـــس لـــوغړيږى دډوډئ پـــه خـــاطر

داسـې مـاهم ورنـه دمينـې خېـر غوښـتو ملګـرو!
زړۀ مـــې بـــې وســـه ورتـــه پښوکښـــې لوغړېـــدوملګرو

نـۀ يـې پـه مـا د خپلـې مينـې پيرزوئينـه اوکـړه
د مينـې تـږے هـر ارمـان مـې پـه ارمـان پـاتې شـو
نـۀ مـې تـرې سـترګې مړيـدې اؤ نـۀ مـې زړۀ صـبربېدۀ
بـس پـه ليـدو ليـدو کښـې زړۀ مـې حـق حېـران پـاتې شـو

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګیالے خوشحال

د اورنــــګ د عظمتونــو غــرور مـــات شـــو
چـې راپورتــه یــو پښــتون لــهٔ اکــوړی شــو
د افغــــان پــــه ننــــګ یـــې اوتړلــــه تــــوره
پــه اورنــــګ بانــدې یـو تنـدر د اسـمانـی شـو

یــــوه چغــــه د غیــــرت او حُریـــت وه
پښــتونخوا یـې هـر اورنـــګ وتــه تنــور کــړه
غــر او ســمه کښــې خــوره شــوه دغــه چغــه
کــهٔ مغــل هــر څــو بنــدی پــه رتنبــور کــړه

د خیبــر لـــهٔ ســره داســې غــږ یــې اوکــړو
یــهٔ پښــتونه! کــهٔ ویښ نــهٔ شــوې نــو ورکېـږې
کــهٔ پیــدا دې پــه خپـل ځـان کښـې اتفـاق کـړو
هـیڅ مغـل بـه دې زیـر نـه کـړی کـهٔ پـوهیږې

پـه یـو لاس کښـې یـې قلـم پـه بـل کښـې تـوره
پښـــتونخوا ئـــې چـــې غیـــرت تـــه لمســـوله
ســـپین ســـحر د ازادۍ تـــــه وهٔ لېوالـــــه
خپلـــواکی د خپلـــې خــــاورې یــــې غوښـــتله

دا یـــې اووې یـــا بـــه زهٔ یـــا بـــه مغـــل وی
د افغــــان پــــه ننــــګ مـــې تــــوره وتړلــــه
ننګیـــالے د زمـــانې خوشـــحال خټـــک یـــم
د مغـــل د عظمـــت مـــور بـــه کړمـــه بـــوره

خـــو بـــې ننګـــو پښـــتنو کښـــې هـیڅ چـرت نـهٔ وهٔ
د وختونـــو پـــه زانګـــو کښـــې تـــول اوده وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړۀ چــاودلے د مرګـــی پـــه خـــوب وده شـــو
پښـــتنو کښـــې هغـــه ســـرۀ بڅـــری نـــۀ وو

پښـــتونخوا ئـــې چـــې پـــه تـــوره نازېدلـــه
هغـــه تـــوره د پښـــتون ده زنـــګ وهلـــې
دخوشـــحال د عظمـــت نـــاوې هـــم خفـــه ده
پښـــتنو چـــې د وختونـــو بنـــګ دي څښـــلی

.....✷✷✷.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

لور

کــــهٔ د قـــام او د ملـــت لـــهٔ پـــاره غـــواړې
هــر ارمـــان دې دځـــامنو خـــدائے پـــوره کـــه
دښـــمنی دپـــاره تـــهٔ کـــهٔ د ورور غـــواړې
اعجـــاز وائـــی چـــې همـــېش د لـــور دعـــا کـــه

زمـــا ســـتا چـــې چرتـــه لـــور اوشـــی، خفـــه یـــو
خـدائے کـه ځـوے راکـړی، جـامو کښـې نـهٔ ځـائیږو
مـــونږ آختـــه آخـــر پـــه څـــه پـــه واویـــلا یـــو
مـــونږ د خـــدائے پـــه دو کـــارونو نـــه پـــوهیږو

ولـــې نـــهٔ ګـــورې چـــې دا هـــم ســـتا ځیګـــر وی
پـــه دې څـــهٔ چـــې دا وادهٔ شـــی او د بـــل شـــی
چـــې رنځـــور شـــې نلـــسته ســـتا د کـــټ پـــه ســـر وی
ســـتا نیـــازبین ځـــوے د وادهٔ نـــه پـــس بـــدل شـــی

دا دې هېـــر شـــو، چـــې پیـــدا تـــهٔ لا د چـــا یـــې
دا کـــهٔ نـــهٔ وے تـــهٔ بـــه څنګـــه زیږېـــدلې
تـــهٔ راغلـــے پـــه دې لار پـــه دې دنیـــا یـــې
پـــه دې راز تـــهٔ ولـــې بیـــا نـــهٔ پوهېـــدلې

دغـــه ســـتا لـــور کـــه د بـــل د کـــور ښـــکلا شـــی
نـــو هـــم ســـتا غونـــدې زلمـــی بـــه راپیـــدا شـــی
تـــهٔ د لـــور پـــه زیږېـــدلو خفـــه مـــهٔ شـــې
هغـــه کیـــږی چـــې څـــهٔ خوښـــه د الله شـــی

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل څۀ ته وائی؟

زۀ دا منم چې غزل څۀ وی؟ غزل څه ته وائی
کۀ دا د سرو شونډو خندا ته د ښکلا ته وائی
نو زۀ غزل د چا ښکلا پورې محدود نۀ ساتم
زما غزل د خوشحالۍ ښکلی صبا ته وائی

غزل یو صنف نازک سره خبرې نه دی
غزل د وخت د تقاضو آئینه دار جوړ شوے
غرل د لوړ تخیلاتو وسعتونه لری
غزل دهردورد تاریخ ښکلے شاهکار جوړ شوے

غزل د نرمو تورو زلفو سره لوبې نۀ دی
غزل انسان ته سمه لاره د ژوندون ښودل دی
غزل یو مینه او د مینې خرمستی هم نۀ دی
غزل د مینې وروولۍ او د تړون ښودل دی

وایم غزل د خوشحالۍ د سباوون زیرے دے
وایم غزل د ظلم شپې د زړۀ چاودون زیرے دے
وایم غزل پۀ ظالمانو د عذاب چغه شی
وایم غزل مظلوم انسان ته د ژوندون چغه شی

لاچی ۱۹۷۴

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز

(د ګهمکول شريف (کوهاټ) په غرونو کښې يوه معصومه جينۍ چې يو ظالم د مينې په جرم قتل کړه، د هغې جرم دا وۀ چې هغه په دغه ظالم مينه شوې وه. دا د کال ۱۹۷۶ واقعه ده)

مينــه کــول خــو زۀ مــنم ملګــرو! بــد خــو نــۀ دى
خــو دا وړ ســترګي زمانــه پــه مينــه څــۀ پــوهيږي
دلتــه خــو مينــه حقيقــت کښــې د هــوس نامــه ده
دلتـــه د مينـــې پـــه ګنـــاه هـــره شـــهناز قتليـــږي

آ ميمـــونۍ خـــو لا غـــوټۍوه، غوړيـــدلې نـــۀ وه
د زمـــــانې د شـــــيرعالم د لاســـــه اوريژيـــــده
لا پـــرې بادونـــه د ســـپرلى هـــم لګيـــدلى نـــۀ وو
د زمـــانې ســـپيرۀ خـــزان لمبـــو کښـــې اوســـوزيده
آدفطـرت دښـکلى حسـن زړۀ رابښـکونکے شـاهکار
چـــې يـــې ښائيســـت تـــه پســـخيدل بـــه دبهـــار ګلونـــه
داســـې شـــاهکارچې رنګيـــدۀ اؤ ماتيـــدۀ ملګـــرو!
ولـــې مـــات نـــۀ شـــول د اســـلم غونـــدې ظـــالم لاســـونه

د پيغلتـــوب پـــه بـــام ختلـــې آ نيازبينـــه جينـــۍ
خـــومره ناترســـه پـــه چـــړو د يـــو يزيـــد قتـــل شـــوه
د خپلـــې مينـــې تقـــدس بانـــدې مئينـــه جينـــۍ
دخپلـــې مينـــې پـــه نـــاموس لکـــه شـــهيد قتـــل شـــوه

دلتــه خــو مينــه يــو ګنــاه ده نــور هــر څــۀ روان دى

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه شهناز په دې ګناه باندې قتلېږی مدام
چې دا دستور او دا سماج او دا نظام وی تر څو
مینه به داسې بدنامېږی، رسوا کېږی ترڅو

راځئ په مرګ یې چې ملګرو په جارجار وژاړو
څومره ناترسه نن د مینې میمونی قتلېږی
راځئ سماج ته په دې ظلم احتجاج چې اوکړو
ګنې ظلمونه به مدام داسې په مونږه کېږي

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان

ســــــتا شـــــباب زمـــــا جنـــــون وے
تـــــهٔ لـــــیلا او زهٔ مجنـــــون وے

تـــــهٔ زمـــــا وے او زهٔ ســـــتا وے
نـــــهٔ خفګـــــان نـــــهٔ زړهٔ بـــــدون وے

تـــــه د مینـــــې شـــــپرینۍ وے
زهٔ فرهـــــاد غونـــــدې پښـــــتون وے

مـــــا پـــــه لپـــــو لپـــــو ښـــــلے
لـــــهٔ هـــــر غمـــــه پـــــه امـــــان وے

خبـــــر ده نـــــور کـــــهٔ هـــــیڅ هـــــم نـــــهٔ وے
خـــــو یـــــو زه او تـــــهٔ جانـــــان وے

تـــــا د مینـــــې ســـــاز چېـــــړلے
زمـــــا ســـــر ســـــتا پـــــه زنګـــــون وے

چرتـــــه لـــــرې پـــــه صـــــحرا کښـــــې
دواړو یـــــو ځـــــاے کښـــــې ژونـــــدون وے

چرتـــــه لـــــرې یـــــو جهـــــان وے
بـــــس د مئیـــــو بنـــــهٔ دوران وے

ســـــر مـــــې ســـــتا پـــــه زنګـــــون پـــــروت وے
پـــــوره دا زمـــــا ارمـــــان وے

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

عشق

عشق د حالاتو د تلخۍ نه زېربېدلې څرېکه
عشق دپې مخو بې رخۍ نه بورنېدلې څرېکه
عشق د زخمونو د سرخۍ نه رالوېدلې څرېکه
عشق دسرې وينې دګرمۍ نه څڅېدلې څرېکه
عشق داولس په غم لړلې د ژوندون قصه ده
نۀ دا يوازې د ليلا او د مجنون قصه ده

عشق د کلهم انسانيت د وروروولۍ فلسفه
عشق دانسان د محبت او سوکالۍ فلسفه
عشق د زردار او د نادار د يووالۍ فلسفه
عشق دخوشحال دننګ وپت، پښتونولۍ فلسفه
عشق دخوشحال دتورې شرنګ او د غيرت قصه ده
نۀ د ليلا او د مجنون د محبت قصه ده

عشق مړېدل، ژوندی کېدل دی د صبا په تکل
عشق غورېدل او رېژېدل دی د خندا په تکل
عشق غورزېدل اؤ پاڅېدل دی د بيا بيا په تکل
عشق سوزېدل او بلېدل دی د رڼا په تکل
عشق دحالاتو د تيرو د زړۀ چاودون قصه ده
نه ده يوازې د ليلا او د مجنون قصه ده

عشق د خپل ځان په معرفت دی د الله پېژندل
عشق په مجاز کښې هميشه د حقيقت لټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

عشــق پــه صــحرا کښــې د لــيلا د ښــکلاګانو ليــدل
عشق پـه خپـل ژونـد کښـې پـه ژونـدون پسـې مـدام ګرځېـدل

عشـــق د حـــالاتو د تيـــرو د ســـباوون قصـــه ده
عشــق دظــالم دظلــم شــپې دزړۀ چــاودون قصــه ده
نـــۀ دا يـــوازې د لـــيلا او د مجنـــون قصـــه ده
عشــق داولــس پــه غــم لړلــې د ژونــدون قصــه ده

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاچۍ چې زما
پلارګنے کلے دے

خزانــــه د تـــاریخونو، دازمــــونږ کلـــــے لاچــــۍ ده
آئینـــه ده د وختونــــو، دازمــــونږ کلــــے لاچــــۍ ده

دبابرنـــه ترخوشـــحاله، پـــه دې لاردی ډېرراغلـــی
دغـــې زمکـــې دوختونـــو ډېـــر جنګونـــه دی لیـــدلی
ټکانــــه یـــې د فوځونـــو، دا زمـــونږ کلـــے لاچـــۍ ده

افرېـدی، خټــک، غلجـی اوتورخېـل پکښـې ابـاد دی
اکوړخېل، موچیان او داسې بډه خېل پکښې اباد دی
خېلخانـــه دۀ د قومونـــو، دا زمـــونږ کلـــے لاچـــۍ ده

د ولـــۍ نـــه درابـــو کـــاڅو پـــورې دغـــه واړه کلـــی
د ســـینی خټکـــو نـــوم بانـــدې یـــادېږی دا ښـــاغلی
آســتانه یــې ده خېلونــو، دا زمــونږ کلـــے لاچـــۍ ده
دغـــې زمکـــې ډېرنومـــوړی بـــاتوران دی زیږولـــی
دمړانـــې پـــه دنیـــا کښـــې ټـــول جهـــان دی پیژنـــدلی
مېخانـــه د عظمتونـــو، دا زمـــونږ کلـــے لاچـــۍ ده

دخوشحال نه پس ته کـه هـر څـو کـۀ دلې حـالات بدل
شــو
دغه خلق نه چـا خپـل کـړۀ، نـۀ پـه خپلـه دچـا خپـل شو
نشــــانه ده د ظلمونـــو، دا زمـــونږ کلــــے لاچــــۍ ده

پـــه دې مځکـــې پیداشـــوی لـــوئې لـــوئې عالمـــان دی
هـــم پیداپکښـــې بـــې شـــمېره شـــاعران اوادیبـــان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

درس خانــه ده دعلمونــو، دازمــونږ کلـــے لاچــی ده

چــار چــاپېره تــرې پراتــۀ دی مزارونــه د بزرګــانو
چــې يــې زړونــه رونـول بــه پــه توحيــد د انســانانو
درس خانــه ده دعلمونــو، دازمــونږ کلـــے لاچــی ده

د ماللی خلې په خوا کښې دغه خړ پړ زمونږ کلے
ګران دے دومره په ما ګران دے لکه وی دليلا کلے
درخانـــه ده د لعلونـــو دا زمـــونږ کلـــے لاچـــی ده

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیا

چـــــې نــــــهٔ ســــــتا ده نــــــهٔ زمــــــا ده
دا دنیــــــــــا وایــــــــــه د چــــــــــا ده

کــــهٔ یــــې غــــواړې چــــې دا ســــتا شــــی
نــــــهٔ خپلیــــــبږی، بــــــې وفــــــا ده

چــــې نــــن شــــته او صــــبا نشــــته
د شــــــکـــــی هســـــــې ځـــــــلا ده

د یــــــو څــــــو ورځــــــو لــــــهٔ پــــــاره
یــــــــو رنګینــــــــه مشــــــــغولا ده

چـــــې ســــــتا دوې ســـــترګې غړیــــبږی
هــــــم ښائیســــــته ده هــــــم زیبــــــا ده
تــــــا بــــــه ځــــــان پســــــې راکــــــاږی
چـــــې تـــــر څـــــو ئـــــې ســــــتا ســــــودا ده

بلاګــــــــانې تــــــــرې جــــــــوړیږی
دا بــــــــلا داســــــــې بــــــــلا ده

وایـــــــه چـــــــا ده خپلـــــــه کـــــــړې
وایـــــــه چـــــــا ســـــــره پخـــــــلا ده

نــــــو بیــــــا ځلــــــه پســــــې درومــــــې
چـــــې نـــــن شـــــته صـــــبا فنـــــا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

آ، پـــــه زړونـــــو بادشـــــاهی کــــړی
د انســــــان عظمـــــــت هــــــم دا ده

خیــــر ښـــــیګړه د ي، د بــــــل هــــــم
د دنیـــــــــــا دا مـــــــــــدعا ده

د رحمـــــــن دغـــــــــه وینـــــــا ده
دروغ نـــــــــــۀ دی دا رښـــــــــتیا ده

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څوک وه؟

هغـــه څـــوک وه؟ چـــې د غرونـــو شـــهزادګۍ بـــه يادېدلـــه
چـــې بـــه کوزبـــه ســـمې لـــه راغلـــه، تـــرې حيـــا بـــه شـــرمېدله

هغه څوک وه؟ ټوله شپه ئې چې ميچن به غرولـه
د مـــلا بانـــګ ســـره ســـمه چـــې ســـحر بـــه پاڅېدلـــه

پـــه ســـترغولی کښـــې بـــه دا لکـــه د زرکـــې ګرزېدلـــه
دغـــه حـــوره د جنـــت مـــې پـــه دې مځکـــه اوليدلـــه

چـــې ســـپوږمۍ يـــې هـــم ښائيســـت نـــه شـــرمېدله
دغـــه څـــوک وه؟ هســـکه غـــاړه چـــې پـــه ځمکـــه ګرځېدلـــه

چـې حيـا يـې هـم حيـا تـه لـه ډېـر سـوخته پسخېدله
دا چـــې پـــټ مـــخ وه روانـــه، څـــومره ښـــکلې ښـــکارېدله

خبـــر نـــۀ ووم چـــې دا راغلـــه او پـــه کـــومې لـــورې راغلـــه
د هوســـۍ غونـــدې پـــه ډَو، ډَو لـــۀ هيبتـــه زغلېدلـــه

خـــو پـــه ســـوو لـــوو زړونـــو لکـــه تنـــدر غورزېدلـــه
زۀ حېـــران ورتـــه ولاړ وم، داچـــې مـــخ پـــه وړانـــدې تلـــه

داخو هغـــه پښـــتنه وه، مـــا بـــه خـــوب کښـــې چـــې ليدلـــه
چـــــې راوېښ شـــــو م ، بيـــــا مـــــې داســـــې

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهوریت

ګرېوانونــــو د یـــو بـــل تـــــه مـــو لاســــونه اچـــولی
د جمهـور پـــه نامـــه ګـوره، پـــه کرســۍ یو جنګېدلی
زه د تـــا خـــټ ماتومـــه، تـــا مـــې پښـــې دی رانیـــولې
زهٔ دورورســـره پـــه جنـــګ یـــم، مـــونږ یـــو بـــل دی پرزولـــی
تـــول پـــه خپلـــه کښـــې آختـــه یـــو، دی یـــو بـــل مـــو ړزولـــی
پـــه دنیاکښـــې چرتـــه وی بـــه، داســـې نورخـــوک شـــرمېدلی
دا هغـــه جمهوریـــت دے زه او تـــهٔ یـــې دعویـــدار یـــو
دا ددغـــې برکـــت دے، د یـــو بـــل ځنـــې ویـــزار یـــو

راته وایی سپرلے راغـــے، ټول وطن به شی ګلونـه
دا خـــزان د غریبـــۍ بـــه، اوکـــړی دلتـــه نـــه کوچونـــه
ورکوو به هر غریب تـه، هر مزدور تـه خپل حقونـه
ټولـــو خـــوارو د وطـــن تـــه، ورکـــوو بـــه پلاوونـــه
غریبـــانو د وطـــن تـــه ، خوشـــحالی بـــه ورکـــوو
مونږدخیـــال پـــه غونـــډۍ ناســـت یـــو، کـــوو دارنګـــې ســـوچونه
لټـــوو پـــه خپلـــې خـــاورې جنتونـــه، جنتونـــه

زمونږداســـې خـــوار قســـمت دے، چـــې یـــې لا پـــه انتظـــار یـــو
دلتـــه دغـــه سیاســـت دے، چـــې یـــو خـــوره نـــو لا بـــه خـــوار یـــو

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس هغه وختونه لاړل

اوس هغه وختونه لاړل
تا به ماته، ما به تاته
دغه زمکه آسمان یو کړل
زۀ په تا به نازېدمه
تۀ په ما به غولېدلې
چې به تا د کوټې سر نه
ماته څومره اشارې کړې
ما به وې چې درنه ځار شم
تا به وې چې ما درواخله
لرې بل وطن ته بوځه
خو ما داکولے نۀ شو
ما به وې چې شهزادګۍ یې
خو زۀ تش د وچې خان ووم
ګنې ما به چرته لرې
دنګو لوړو غرونو مینځ کښې
د خوږو اوبو په غاړه
یوووړوکے شان کورګے به
کاڼو خاورو نه جوړ کړے
خو ما داسې کوے نۀ شو
اوس هغه وختونه لاړل
ځکه ژوند اوس هغه نۀ دے
دا دنیا دومره وړه شوه
اوس نړۍ واړه یو کور دے
چې تۀ څۀ وخت کله غواړې
د هوا په څپو هر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ او تۀ دواړه خبرې
ښۀ په مينه هم کوے شو
کۀ مونږ يو بل ليدل غواړو
په اسانه هم ليدے شو
خو اوس مينه هغه نۀ ده
چې د زړۀ په زور کېدله
اوس چې څۀ هم کول غواړې
داپه مال او په زور کېږى
چرې دا دواړه کۀ نۀ وى
نوم د مينې چې وانخلې
هغه تش د قصو وخت وۀ
ما او تا چې اورېدلې
نۀ ليلا او نۀ مجنون شته
دغه ټول عبث قصې شوې
کۀ په مټو کښې دې زور وى
هر سړے به د ستا ورور وى
اوس هر څۀ بدل بدل دى
نۀ ګودر او نه منګى شته
د ليلا مجنون خبرې
د خيالى دنيا قصې شوې
اوس هغه وختونه لاړل
اوس نړۍ واړه يو کور دے

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلفت حسین شهید

پـــه لاره دحســـین بانـــدی چـــې تلـــې دې ګلفـــت
نـــو ځکـــه خوجنـــت تـــه رســـېدلې دې ګلفـــت

دنـــورو ســـر ســـاتنه یـــې د ژونـــدیولوئـــے مـــرام وۀ
شرخوښوســـــره ځکـــــه جنګېـــــدلې دې ګلفـــــت

دقـــام او د ملـــت دپـــاره هرڅـــۀ یـــې قربـــان کـــړل
نـــو مـــرګ د شـــهادت تـــه خندېـــدلې دې ګلفـــت

ژونـــدون یـــی آخرڅـــۀ وۀ، جیوقربـــان او زارېـــدل وو
مطلـــب د ژوندانـــۀ مـــونږ تـــه ښـــودلې دې ګلفـــت

مـنم چـې دا رښـتیا دی ،سـل دی اومـره یـو دی مـۀ مـره
اعجازختـــک هـــــم دارنګـــې ســـتائیلې دې ګلفـــت

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

چې څښوې شراب د مینې په نظر د مستو سترګو
په دا خوئ مې څکه خوښ دے دا دلبر د مستو سترګو

زما سترګې پرې خوږېږي، زما زړهٔ چې پرې ډاېه وي
خدائے آباد دې لرې داسې دا ګودر د مستو سترګو

سترګو سترګو کښې ست اوکړی، رانه اوتښتی مخ پټ کړي
کوي مینه پټه پټه په هنر د مستو سترګو

څوک يې نهٔ وینی رادرومی، څوک پرې هډونهٔ پوهېږي
چې وربېږي کله غشي، له سنګر د مستو سترګو

نذرانې ورته شاهانو، چې د خپلو زړونو راوړې
ما لیدلې په دې سترګو کروفر د مستو سترګو

هيڅ يقين مې خدائے زده نهٔ شي، چې به بچ ترې زما زړهٔ شي
راپسې چې لګیا داسې، وي لښکر د مستو سترګو

هرنظر يې سخن ساز دے خدائے ورکړے دا اعجاز دے
دا همه غزل شی، په اثر د مستو سترګو

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

(دا غزل دبنون تنقيدي ادبي ټولنې په انعامي مشاعرې کښې د دويم انعام حق دار ګرځولے شوے وۀ . د طاهرکلاچوی غزل ته وړومبے انعام ورکړلے شوے وۀ)

ستا د مينې لېونې چې وو، په دار شو
په مئينو کښې دې اوس خو ايله شمار شو

دا حرم کۀ بتکده وه، نۀ پوهېږم
لېونے زړۀ مې په پښو کښې ورګزار شو

په زاريو به دې هيڅکله خپل نۀ کړم
زما عشق هم د پښتون غوندې خود دار شو

غمژن زړۀ ته مې د سوز سندرې وايه
ايله سپک خو مې په دې د زړګی بار شو

ستا د مستو خمارو سترګو اثر وۀ
مېخانه کښې د جامونو ګړنګهار شو

دا **اعجاز** چې وۀ مدام خلقو رټلے
په دې څۀ کۀ جوړ په مرګ يې وير نانار شو

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

حسن، مینه چې راپیوځائے شی جانان شی
د چا سترګې، د چا زړه شی، دچا ځان شی

کۀ زما جانان دې اولیدو په سترګو
تانه هېر به دجنت حورې غلمان شی

چې په مال، دولت ئې خوک اخستے نۀ شی
کاشکې هر انسان کۀ دغسې انسان شی

خلق وائي چې یې زړۀ راځنې یوړو
خو تازه پرې د اعجاز خټک ایمان شی

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

راشـــــئ چـــــې زۀ درکـــــړم لېـــونی مینـــــه
بـــــل خـــــوا ښـــــکلیو! څلـــــه لټـــوئ مینـــــه

مـــــا درتـــــه شـــــوملې او پیـــــاڅې راوړلـــــې
غـــــواړې کـــــۀ لـــــۀ مانـــــه پرونـــــی مینـــــه

خلقـــــو! لټولـــــه ســـــرو او ســـــپینو کښـــــې
هغـــــه وه غریـــــب کښـــــې پخـــــوانی مینـــــه

مینـــــه د غـــــرض پـــــه سیاســـــت شـــــوله
جـــــوړه شـــــوه اوس دا پاکســـــتانی مینـــــه

چغښـــې چـــې د دوو غرونـــو میـــنځ کښـــې شـــوه
څـــــومره ده مظلومـــــه افغـــــانی مینـــــه

دوه مئـــین جـــدا چـــې لـــۀ یـــو بلـــه کـــړی
دا بـــــه وي رښـــــتیا امریکنـــــی مینـــــه

مـــا اعجـــاز تـــه ژونـــد ځکـــه رنګـــین ښـــکاری
مـــــا ســـــره چـــــې وی د شـــــېرینی مینـــــه

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

مونږه په سره اورکښې ژوندون له ډېرناکامه کوو
طمع د ننګ چې له بې حسه ودهٔ قامه کوو

هر څو کهٔ نورو باندې بدې لګی رښتیا خبرې
د ژوند خبره به همېش د ژوند لهٔ بامه کوو

دخپل ښائیست په بام ختلې دومره مهٔ نازېږه
مونږه عزت ستا د ښائیست لهٔ احترامه کوو

تر څو چې مینه پېغلتوب ته رسېدلې نهٔ وی
ددې دفاع به تر هغې له هر الزامه کوو

چرته چې بد په خلقو تش د مینې تکی لګی
په داسې کلی کښې به څنګه مینه عامه کوو

هیڅ پوهه نهٔ شو چې په تاباندې مئین څنګه شو
وایئ اعجاز داسې کارونه مونږ بې پامه کوو

.....✸✸✸.....

یادګیرنه ! چاراته وې چې ستا دا غزل بل یوشاعر پخپل نوم خپل کتاب کښې چاپ کړے نو ماوې چې دا خو ما دپاره لوئے اعزاز دے چې زما کلام هم څوك د دې جوګه ګڼي چې پخپل نوم ئې چاپ کړي ---- اعجازخټك

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

هغــه چــې ســترګو کښــې خبــرې کــوی
راتـــه د مینـــې ډېـــرې غـــورې کـــوی

حېـــران د کلـــی مشـــرانو تـــه یـــم
دا چـــې خبـــرې کـــوی ســـترې کـــوی

د فلســـطین او د کشـــمیر پـــه زمکـــه
خبـــرې تـــورې کـــوی، زغـــرې کـــوی

چــې د اعجــاز غونــدې لــۀ ســره تېــر شــی
هغـــــه خبـــــرې زړَورې کـــــــوی

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

هغه چې جام د پاسه جام سره هم خلۀ ورکوی
داسې ساقی ته به څوک څرنګې زړه نۀ ورکوی

په دواړه لاسه چې سحر ماښام لوټی مالونه
دومره غریب سړے به بل غریب ته څۀ ورکوی

کله د خدائے په مینه مست، کله د قام په جذبه
سرونه دومره آرزان بیه پښتانۀ ورکوی

هغه ده بیا د زمانې منصور په دار خیژوی
ژوند ورنه آخلی خو ژوندون په ژواندانۀ ورکوی

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

ملګـــرو زۀ پــــه داســـې ښـــار کښـــې اوســـم
لکـــه د مصـــر پـــه بـــازار کښـــې اوســـم

شـــــهبازګړه د ســــترو ځــــاے يــــادېږی
ځکـــه د يـــار د کـــوځې لار کښـــې اوســـم

خبـــر دے کـــۀ نـــه راځـــې خـــو هـــا اووايـــه
چـــې دې خـــوش فهمـــه انتظـــار کښـــې اوســـم

هغـــــه د امـــــن او انصــــاف غوښــــتنه
لکــه د تېــر وخــت چرتــه غــار کښــې اوســم

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

ژونــدون څــه دے دا يــو نــوم د هنګــامو دے
ســـــتړی لار د پرېوتـــــو اؤ پاڅېــــدو دے

څــوک پــه غــم لړلــی ژونــد څنــې بېــزار دی
د چــا ژونــد خــو بــس يــو نــوم د رنګينــو دے

چــې د وخــت هــر يــو طوپــان تــه غــاړه وځــی
منــزل پښــو کښــې بيــاد داســې لېونــو دے

ټپوســـــانو لــــه ژونـــــدون لتــــه ورکــــړې
د ژونــدون حــق خــو يــوازې د زمــرو دے

فيصــلې زمــونږ د کلــی چــې پــردی کــړی
دغــــه جــــړ زمــــونږ دټولــــو مســــئلو دے

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

پروت په سجده، زړۀ کښې خدائے بلا خدایان ګرځوو
مونږ آذر خویه دې کعبې کښې هم بتان ګرځوو

خدائے په هر څه یو پوره کړی خو بیا هم ډېر وږی
کچکول په غاړه څکه مونږ په ټول جهان ګرځوو

د نړیواله کلی خان ملک به څوک پوهه کړی
په خپل وطن کښې جنازې مونږه د ځان ګرځوو

عدل انصاف، د داسې خلقو به څوک څۀ اومني
چې دروغژن یو څکه سر باندې قرآن ګرځوو

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ستا د خبرو د خوب به نهٔ یم
هر څهٔ به یم خو سپین کتاب به نهٔ یم

خلق مې لولی پاڼې پاڼې د ژوند
په مخ راخور دې تور نقاب به نهٔ یم

چا نه چا، چا پورې خپل ځان تړلے
د کتاب داسې انتساب به نهٔ یم

د ژوند مقصد کهٔ د جنت ګټل دی
آخته په دغسې عذاب به نهٔ یم

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ځنـي سـرونه مـې لیـدۀ ، پـه نمـر خاتـۀ پرېواتـۀ
ځنـي سـرونه آخـر غـوځ شـو، ورتـه نـۀ پرېواتـۀ

دخاموشـــۍ لــۀ شــوره ډېــرو ســر تنــدے اونیــوۀ
دبېوســـۍ لـــۀ زوره ډېـــر پـــه زنګانـــۀ پرېواتـــۀ

دعـوې پـه چـا، آخـر د څـه ،پـه کـومې خلـې اوکړمـه
هلتـــه دامـــن دعـــوه ګیـــر ســـاړۀ واړۀ پرېواتـــۀ

غـــوره ټنـــا چرتـــه پـــه لـــرې وطنونـــو اوشـــۍ
تنـدر آخـر زمـونږ پـه کـور پـه هرکالـۀ پرېواتـۀ

ځـان تـه د ځـان پـه مقابـل چـې کلـه زۀ اودرېـدم
دزړۀ کعبـــې کښـــې مـــې بتـــان خـــوارۀ وارۀ پرېواتـــۀ

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ګلـه! چـې پـه سـترګو کښـې اغـزے دې کـړم
ښـه ده چـې خپل ځـان سره يـو ځـائے دې کړم

تــــا چــــې د ښــــو پــــه غشــــو اوويشــــتم
مــــړ ومــــه جانانــــه! راژونــــدے دې کــــړم

زۀ خــــو ســــتا پــــه ســــترګو جهــــان ګورمــــه
سترګې مې هم تـه شوې چـې پـردے دې کړم

خلقــــو د مجنــــون خبــــرې هېــــرې کــــړې
ځــــان پســــې هــــم داســــې لېــــونے دې کــــړم

ســــتا اعجــــاز ختــــک بــــه ولــــې نــــۀ ســــتائي
سـتا يـو خـوږ نظـر دے چـې زلمـے دې کړم

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

هیڅوک نـهٔ ګوری خپـل ځـان پـه ائینـه کښـې
بــل تـــه ښـــائی بــل انســـان پـــه ائینـــه کښـــې

تـوريٍ خـاوريٍ بـه د یـار پـه دیـدن مـوړ شـی
ځـان تـه ګـوريٍ چـې د ځـان پـه ائینـه کښـې

خلقـــو خپلـــې برخـــې یـــوړيٍ بختـــور شـــو
مـــونږ یـــې ګـــورو د ارمـــان پـــه ائینـــه کښـــې

دا چـــې تـــا پـــوريٍ یـــادیږی زمـــونږ کلـــے
ښـــکلے ښـــکاری د دوران پـــه ائینـــه کښـــې

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

(درې شعرونه)

هــر ســړے نفــرت لــۀ یــو ســړی کــوی
هـــر ســـړے ددۀ ســـره یـــاری کـــوی

خدایـــه! د دجـــال فتنـــه بـــه څنګـــه وی
ګـــوره! چـــې ړانـــدۀ مـــو مشـــری کـــوی

خپلـــو مـــې چـــاړۀ پـــه مـــری ایښـــې ده
خپـــل خـــو داســـې نـــۀ کـــوی، پـــردی کـــوی

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

پــرون چــې وروړ د وروړ مرګونــه اُوکــړل
مــونږ پــرې د پاســه زيــات قتلونــه اوکــړل

چـــې پـــه لمنـــې د چـــا نمـــونځ کېـــدلو
هغـــو ګنګـــا کښـــې اودســـونه اوکـــړل

غــل بــه د غلــوښ ◌ْطن کښــې چــا تــه وايــو
هرچـــا يوبـــل پســـې نمنځونـــه اوکـــړل

مــــونږ تـــه څــــۀ پتــــه د دښــــمن نــــۀ لګــــی
مــونږ دپـــردو پـــه ســـر جنګونـــه اوکـــړل

خــوب کښــې چــې راغْـــے نــو ورغــاړْې وتــم
مفتوکښـــــې مـــــونږه ديدنونــــــه اوکـــــړل

چــې پــه دنيــا کښــې پــۀ ښــۀ نــوم يــادېږی
هغــو هــم داســې ښــۀ کارونــه اوکــړل

اعجــاز خټــك بــه آخــر خــدائے پوهــه کــړی
غــرۀ کښــې يــې چاتــه آوازونــه اوکــړل

۲۷مارچ ۲۰۱۲ ء

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

هائيکوګانې

مانـــه جمـــات کښـــي چـــا ځپلـــی پټـــې کـــړې
مـــاوې چـــې دا څـــۀ د مـــوچي دکـــان دے
چـــې زړي پربـــړدي او تـــرې نـــوې يوســـی

.....✸✸✸.....

نـــن يـــو خټـــك دغـــرۀ پـــه ســـر ګډيـــدۀ
مـــاوې چـــې بيـــا بـــه چرتـــه ډول غږيـــږي
ځکـــه چـــې دا دومـــره د ټينګـــې نـــۀ دي

.....✸✸✸.....

مـــونږ هغـــه ملـــك تـــه زنـــده بـــاد وئيلـــي
د ښـــي توښـــې نـــه يـــې مـــونږ اوويســـتلو
لکـــه پـــردي خيـــرات کښـــې ســـپي ورړوُو

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

هائیکوګانې

دخـــوارې ځـــوی ډالـــر لیـــدلے نـــۀ وۀ
اوس د ســوکړك پــه ځـائے برګـرې غـواړي
مــونږ بــه اوس تشــې هســې خلــې چړپــوُو
.....✸✸✸.....

پــــه انټرنیـــټ یـــاراني ځنګـــه کېـــږي
چرتـه فیس بـك کښـې چې جینـۍ ښـکاره شـي
بـــلا ځوانـــان ورتـــه لَـــو يُـــو اووائـــي
.....✸✸✸.....

د دهمـــــاکوسره بلـــد دومـــــــره شـــو
اوس د ټوپـــك ډز راتـــه داســـې ښـــکاري
لکـــــه ماشـــوم چـــې چرتـــه ټیزواچـــوي
.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

هائيکوګانې

خدايه ! په ملک کښې خوشحالي راولې
ګنې وارۀ وارۀ خدايان دی واړه
دځان نه مخکښې به دوزخ ته لېږو

.....✸✸✸.....

چاوي چې ځنګه څوک ليډر جوړېږي
ماوې دروغ او حرامتوب زده کړه
خلق به دې خپله بيا به سر ګرځوي

.....✸✸✸.....

سل شيطانان او يو ليډر زمونږه
لکه چې سل پاپړ او يو لوړ وي
ځکه شيطان هم ترېنه لرې تښتي

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

هائيکوګانې

ښکلو ته اووايئ چې کور کښې کېنئ
زمونږ وژلو ته دي نۀ رادرومي
اوس دغه کار دغه خودکشه کوي

.....✸✸✸.....

نرخونه ورځ په ورځ په بره خېژي
چې دغه حال ، دغه رفتار وي زمونږ
بره سپوږمۍ ته به مونږ زر اورسو

.....✸✸✸.....

يوشل روټۍ مې چې مېلمه ته راوړې
وې چې يوه روټۍ ترې بيرته يوسه
وې چې انسان يم ، ځناور خو نه يم

.....✸✸✸.....

چرته زړۀ خوړے مشر وي به کنۀ ؟
په دې ارمان واړه سپين ږيري شولو
لکه د کونډې لۀ لېورۀ اووتو

.....✸✸✸.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـه یـو انګرېـز انګرېـزي نـه شـی لـیکے
دغـــه پوښـــتنه لـــږ د ځـــان نـــه اوکـــه
تـــا کـــوم پښتوکښـــې سپاړسـم پـــاس کـــړے

.....✸✸✸.....

هغـــه جمـــات کښـــې انګرېـــزی وئیلـــه
وې یـــې چـــې دۀ د خـــدائے ظـــالم تـــه ګـــوره
کفـــر ئـــې ټـــول ګـــوره ! جمـــات تـــه راړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعجاز خټک هغه شخصیت دے د چا لۀ برکته چې په ټول خلیج کښې د پښتو ټولنې جوړې شوې دي او په خلیج کښې د پښتو مشاعرو بنسټ هم دغه مشر ایښودلے دے. د اعجاز خټک په کوششونو او ترغیباتو زمونږ پښتو ادبي ټولنه قطر هم جوړه شوې ده
د کومې لۀ سوبه چې په پښتو ادب کښې ډېر زیات کار په دیار غېر کښې شوے دے.د اماراتوپښتو ادبي ټولنه مرکزډُبۍ واحده ټولنه ده چې په پردي وطن کښې یې مشاعرې منعقد کړې دي او د پاکستان نه یې ورته شاعران او ادیبان راغوښتي دي.تر اوسه د ټولنې د ملګرو لۀ خوا څو درځنه کتابونه او مجلې هم خپرې شوې دي.دا ټول هر څۀ د دغه کس لۀ برکته وو..
فیروزآفریدي
صدر
پاك پښتوادبي ټولنه دوحه قطر

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library